تودبرېښ

ټولونکی : عبدالله بختانی

پښتو ټولنه

د پښتو ټولنې د خپرونې لمبر (۱۹۰)

توربریښ

یا

PROPERTY OF ACKU
6094

ملي حماسي سندري

د

خیرنمل عبدالله بختانی

0326

ټولنه، مقدمه او اهتمام

پښتو ټولنه

0260

د ۱۳٤۷هـ ، ش دسنبلې او له

دچاپ شمیر : (۱۰۰۰) نسخې

اهدا

دهغه نباغلی مجاهد سپیڅلی

روح ته چه دوطن دآزادی۔

په غزا کښې شهید شوی دی،

مړی یې ورک دی اوزیارت

یې معلوم نه دی. ع۔ بختانی

ـ الف ـ

يوځو خبرې

دعربي او فارسي له تأثيرنه دمخه پښتو شعرونه پـه خپلو ملي وزنونو او تالونو ويل کېدل . داميرکر وړو ياړنه دبيټ نيکه مناجات ، دقطب الدين بختيارکاکي سوې کوکې اوداسې نور لرغوني شعرونه او سنـدرې ددې خبرې پاخـه سندونه دي .

مګر کله چه دعربي ژبې مذهبي او دپارسي ژبي حکومتي اثر زيات شونوپه پښتو شاعرۍ يې هـم اثـرو غور زاوه او عربي اوپارسي سيلابونه يې ومنل. دمنځنۍ دورې زيات ادبي آثار، ديوانونه او اشعار ددغه اثراورنګ دمنلو پوره نمايندګي کوي .

ولې سره ددې هم پښتو دخپل طبيعي قوت او غړ نـې چاپېر په برکت خپل لرغوني وزنونه او تالونه هم هېرنه کړل او دملي وزنونو اوملي اشعارو سلسله هم ترد ې وخته پورې راورسيدله .

په دې سلسله کښې ټـپه يا لنـډ ۍ دپښتو شاعرۍ ترټولو ښځ‌ژانۍ نمونه ده چه دپښتون‌اولس دېر لرغونـي ، پاك او سپېڅلي احساسات پکښې په يو اغيز ناك او ښايسته ادبي رنګ کښې ساتل شوي دي .

په لنډيو پسي وروسته نيمکۍ ، بګټۍ ، چار بيتي ، لوبۍ داولسي شاعرۍ دادبي خزانې يوه لويه پنګه ده . پـه

دی قسمونوکښې چاربيته ترټولو زياته پراخه خونـدوره او سودمنه نوعه ده .

دپښتو په اولسی ادب کښې چار بيتي دپارسي لـه قصيدو او مثنوي سره ښکځ وهی او هغه ګرورځنی‌اخيستل کيږی . نوميالی ختيځ پوهاند ډارمستېتر فرانسوی وايي: چه چاربيتي دپښتنو يوليکلی تاريخ دی ، ددوی د جنـګو نو او غزاګانو تاريخ په چار بيتوکښې نغښتی دی .

مګرله بده مرغه چه ډيرې پخواني چـار بيتي دخپـلو ويونکو سره يوځای تر تورو خاورو لاندی شوی دی او څـه زياته پنګه يې لاس ته نه ده راغلی .

يو څو چاربيتي دپټې خزانې په واسطه د زمانې لـه چپاونه روغې پاتې شوی دی چه هغه هم عشقی بدلی دی او نورتاريخی موادنه لری .

البته دپښتونخوا هاروبهار نومی کتاب په ذريعه چـه چه دډارمسټېټر د زيار او کـو شش يـو ، غوره نتيـجه ده دچاربيتو يوه ښه پنګه زمونږ لاسوته راغلی ده .

ولی دغه چاربيتې هم ددیارلسمې هجرې پيړۍ‌په‌وروستی نيمايي پورې اړه لری او زياتی لرغونی نه دی .

خومره چه ښکاره ده چاربیتــی زیاتی دنالــو ستو شاعرانو له خوا ویل شوی دی مگر ځینی اخو نان او ملایا ن هم پکښې ډېره لویه برخه لري .

په یوه مجلس کښې سمد لاسه چار بیته ویل ؛او لسی شاعرانو دشعری قوت دښو دلو یوه لو یــ، نښه ده پښتنو شاعرانو دغه ازمیښتونه ډېرکــړی دی خو زمو نږ اوسنــی نسل ورځنی پوره خبر تیانه لري .

پښتو ټولنې په دوه دلیله اراده وکړه چه دچار بیتویوه پنګه راټوله کړی . اول داچه چاربیتی ژمونږ داولسی ا دب یوه ډېره قیمتی پانګه ده او پکار دی چــه له ورکېــدو څخه خوندی پاتی شی . بل داچه په چاربیتوکښې دټور یالو نیکونو دجنګونو او غزاګانویو ښه تاریخ نغښتی دی مو نږ داول ځل دپاره وغوښتل چه لومــړی حماسی چــاربیتی یاپه بله ژبــه تاریخی چاربیتی راټولی کړو . داکار دپښتو ټولنی یوغښتلی اوبا ذوقه غړی عبدالله بختانی ته وسپارل شو . ده په ډېــر زیار دننګرهار له شنو درو او سمسورو ناوونو څخه دغه ملی

سرمایه راټوله کړه ، څه یې له یونیم کتاب‌څخه رانقل کړي ، ځینې ګلونه یې ته (هاروبهار) نه راغونډ کړل او دغه‌خوږبویه او ښایسته غږنچه تـرې جوړه شـوه . ددې مجموعـې نوم «توربرېښ» کېښودی شو ولې چه زمونږ دپلرونو او نیکو نو دتورو او میړانو یوه ځلانده هنداره ده .

کومې خونړې جګړې چه دوی دسلو کالو په موده‌کښې له برنګیانو سره کړې دی ؛ هغه ټولې پکښې انځـور شوی دی . ددې چار بیتوپه تاریخي او لفظي سمونه او دپاوړ قیو په لیکنه کښې ما هم خپله برخه اخیستې ده او په پوره‌غورمې کتلي اوسمې کړې دي .

پښتو ټولنه دېره‌خوشحاله ده‌چه دغه قیمتي«توربرېښ» دهیواد دخپلواکې دپنځوسم جشن په یادګار پښتنو مشرانو ځوانانو ،وړو ، لویو ،ښځو اونرو دننګ او غیرت‌سپېڅلـې عقیدې او جذبې ته وړاندې کـړې او پـه دې وسیلـه ددوی دتورې او میړانې یو پړک او ځلاټولي نړۍ ته وښیي.

(رشتین)

بسم الله الرحمن الرحیم

دمؤلف خبری

دپښتو منظوم ادب هم داثارو د زیا تو الیله حیثه او هم دهر ډول مطالبو له مخه ډېره زیاته پانګه لری .

که دشاعرانو ډله داولس دنورو طبقاتو سره مقایسه کړو نوویلی شوو چه دنورو ډېرو هېوادونو په نسبت پښتانه ډېر شاعران لری. ډېر کسان چه دلته کسبی اومسلکی شاعران نه دی، هم یې کله کله کومه سندره یالنډۍ ویلی ده،

دپښتو شا عری بها ندسیند له دوومهمو منابعو نه راوځی

چه یوه یې داموسیند په شان په پوره ژور تیاواوپراخوالی اوبله یې داباسیند په‌شان په شور، زوږ اوغورزنګونو روانه ده.

دوا ړه برخې داولس دروان ژوند او دژوندانه د جریان ښوونه کوی . او داولس د ذوق او قریحې ښې خړو بوی .

اوله برخه یې هو ښږ لیکلــی ادبیا دپخو شا عـرا نو داشعارو هغه سلسله بولوچه دعلم، تفکر، پوهی او تجربــې په اثر درواجی علمونو په رڼا کښې میدان ته راوتلی او لیکل شوی ده .

0326

بله برخه یې شفا هی ادب یا داولسی شاعرانو دسندرو هغـه سلسله گڼو ، چه د اولس د ژوند ، پیښو او د هغو ی داحساساتو او عاطفو ، رسم، رواج‌او عقیدې‌ترجمانی‌کوی .

کله دجنګ دمیدا نونو دقهرمانانو کیسی او نکلـو نه او کله دمینې دنړی دپتنګا نو ددرد او سو ز صحنې ښیی .

کله لا اخلا قی مو عـظې کـوی او یا دمذهبی مشرانو داستانونه بیا نوی .

ددغو اشعارو ویونکی زیات عام اولسی خلك دی ، چـه داولس له منځه راوځی او اولس ته ددوی په ژبه ګړیږی .

په دې شاعرانو کښې کیدی شی چه دمختلفو طبقـــو نمایندګان یعنی دهقانان ، ترکاڼان، ډمـان او هم مـلایان ، پیران او کله لا پکښې خانان او ملکان هم پیدا کړو .

په هر صورت چا چه په دې برخه کښې برخه اخستې ده هغوی ضرور خپلـې سنـدرې داولس پـه ژبه اولس ته وړاندې کـړ ی دی او په روانه او اسا نه پښتـو یې‌داو لسی سندرو راز راز آهنګونه راویستلی او ساتلی دی .

هرې سندرې دلفظ او معنی دقوت په اندازه یو څه عمر خوړلی او بیا دخلکو نه هېره شوې ده .

کله کله‌کوم شوقی سړی خپل یا پردی شعر پـه کو م کاغذ لیکلی دی او دهغه دپا یښت سره یې څه مرسته کړ ې د ه .

خوبیا هم کاغـذ هم یو نـازك شی دی ،یا مږکو اویـا چینجو خوړلی دی یا کوټه پرې خښېدلې ده او یا دکوم‌ماشوم او ساده دبې پروایی لا سونو مرو ړلی دی اویا دنا پوهی په اور کښې سوزېدلی دی .

دچاپ او چاپخانې له راتلو نه وروسته هم دپښتو د ې
برخې ته پوره توجه او پاملرنه ونه کړی شوه .

په لومړی سر کښې ځینوختیځ پېژندونکو یو څه وکړل،
خو دژبې اصلی خاوندانو داولسی ادب دراټو لو لو وخت
بیا نه موند او دشعر او ادب دغه قوی او قیمتی برخه په کلیو،
بانډو، درو او غرونو کښې دسندر غاړو ،دهقا نانو او شپنو
سره پاتې شوه .

په ښارونو او مرکزونو کښې زیاته تو جه دپخوانیو
لیکلو آثارو دخپرنې خواته و گرځېده او ښا یسته په دې برخه
کښې کار وشو بیا هم پښتو ټولنې داولسی سندرو دټولو لو
او چاپو لو په لاره کښې لومړی گامونه وا خستل او د«پښتنی
سندرې» په نامه یې دوه ټوکه کتا بونه ، «دملنگ جان خو ږې
نغمې» او د«بهایی جان کلیات» یې دچاپ ډگرته را وویستل
بهایی جان او ملنگ جان معاصر اولسی شاعران دی ، خو
په اولس کښې په سلها ؤ تنه نور هم شته او تېر شوی
د ی .

په « پښتنی سندرې »کښې ترممکنه حده پو رې هغه
اولسی منظومې چه عشقی او بزمی خوا پکښې غا لبه وه
راټولې شوې مگر دمو ضوع له مخه دپښتو په اولسی شاعری
کښې حماسی برخه ډېره مهمه گڼل کېږی .

ددغه اهمیت داحساس په وجه څه موده مخکښې پښتو
ټولنې زه مؤظف کړم چه په دې لاره کښې یو څه زیار وبا سم
او اولسی حماسی چاربیتی راټولې کړم ،ما څومره چه وکولی
شول اول مې لیکلی شوی آ ثار ولټول او بیا مې د ننگر هار
کونړ او لغمان سیمو ته یو لنډ سفر وکړ او دحماسی بد لو

او چار بیتو بنې نمونې مې لاس ته راغلې چه دادی په ډېره مینه دادب مینانو ته وړاندې کېږی ،کېدی شی چه نورلیکوال دپښتونخوا دنورو برخو په پلټلو پیل وکړی او دپښتو ا دب ددغه لوی سیند ته تل‌څخه نورې قیمتی مر غلرېهم راوباسی.
داکار څو ګټې لری :

۱- زمونږ دتاریخ ډېرې پټې او نا معلومې پېښې اوددغو پېښو قهرمانان مونږ ته معلومېږی اودملی‌تاریخ دلیکوالو سره مرسته کوی .

۲- زمونږ دادب ډېره قیمتی برخه‌له ور کېدو او تباه کېدو څخه خوندی پاتی کېږی .

۳- دداخلی او خارجی ادب څېړونکو ، ژب پو هانو او دکلتور اوملی فولکلور پلټونکو دپاره داستفادې وړ مواد لاس ته راځی .

٤- شاعرانو ته ډېر ښکلی او ښایسته آهنګونه په لاس ور کوی چه خپل نوی فکرونه پکښې واچوی .

٥- داولس او عامو لوستونکو سره دملی احساساتوپه روزلو کښې مرسته کوی .

ددې مجموعې سندرې یو څه دلیکلو منابعو نه اخستل شوی او یو څه یې دخلکو دخولونه اوربېدل شوی دی. دهرې سندرې په آخر کښې اول دشاعر نوم او بیا دسندرې مأخذ ښودل شوی دی . مأخذ کله کتاب او مجله او کله اشخا ص وی . مثلا :

(برهان ـهارو بهار)دا معنا ور کوی چه دشعرویونکی (برهان) نومیږی او شعر د «هارو بهار» له‌کتاب نه اخستل شوی دی . (او شبر افضل ـ عبدالجلیل سر تور)دابنیی

چه شعر د (شبیر افضل) دی‌اوله (عبدالجلیل سر تور) نــه اوریدل شوی دی .

په دې مجموعه کښې دضرورت په وخت دناآشنالغتونو دحل ـ دشاعرانو دمعرفی او دواقعاتو دښودنی په نیت ځینې لنډې حاشیې هم ورکړ شوی دی .

کوم شعرونه چه ددوو یازیاتو منابعو نه لاس ته راغلی دی ، هغه یو تر بله سره مقابله شوی او هغه شکــل یــې

اخستل شوی چه صحیح‌معنا ور کوی . زه منم‌چه زماکوښښ به ناتمامه وی خو انسان په خپله وسه پړ دی .

زه خپلې خبرې بس‌کوم اوتاسې دکتاب‌مطالعې ته رابولم داخبره ډیره ضروری ده چه له هغو ټولو ښاغلونه خو ښــې څرگنده‌کړم چه ددې مجموعې په ټولو کښې‌یــې را سره مرسته کړې ده .

کابل ـ پښتو ټولنه ـ څیړنمل عبدالله « بختانی»



(۱)

دامیر دوست محمد غــزا

چاوې چه دوست محمد غا زی سنبا ل شو په کابل کښې
بــاد شا ه په کنــد هــا ر زو ړا یې خپــژی دلښکرو
چا وې چه دوست محمد امیر را وو ت ځی غزا له
پوځونه ور سره دی بری ور کړې ذوا لجلا لــه
یوه ورځ محمد اکبــر چه ور غی دسنګر خــوا له
دښمن یې شر منده په مــخ کښې تښتی بې سنباله
خانه ټینګک دې کړه اسلام کلمه ډال کړه په منګو ل کښې
چاوې چه دوست محمد غازی سنبا ل شو په کابل کــښې
ویــې کــړ جنــګریــز لــړ او یــې جو ړ کــړ د شــتــر و
بــاد شاه پــه کنــد هار زوړا یې خپژ ی د لــښکــر و
* * *
جنګړه یــې سره وکــړه زما ګــله په میــدا ن
هلته شو ور وړاندې دامیر صاحب سپا هیان
ګولی دجزائــیلو (۱) و ربــد ې لکه بــاران
سر ږ دی دخدای په لوری د را نی دی اژ دران
سرکښ یې هرې سنګه ؤ چه راګیر شو په غوبل کښې

(۱) جزا ئیل ـ غربین د پخوا نی زما نې یو قسم ټوپك
(ظفر اللغا ت)

چا وې چه دو ست محمد غا زی‌سنبا لشوپه کابل‌کښې
مردار یې کړه کـفار غوځ پـه تېرو تـورو نـا در و
بـاد شاه پـه کنـد هار زوړا یې خېژ ی د لـښکـر و

* * *

کاغذ دهزی سنګه ؤ ده لـېږلی و سرکار ته
را در و مـه برابر سکېا نو مخه کړه‌پنجتارته
غا زیان دکوم مکان دی عرض‌کړی پرورد ګارته
ور غلـه عالمه‌برابر دېره شـو ښـا ر تـه
چه یې وښکې مسری‌تورې پړك یې‌جوړ کړه په اول‌کښې
چا وې چه دو ست محمد غا زی‌سنبا لشوپه کابل‌کښې
پـه مخ کښې تـرې ټـولی تله د سړ یو سر ببـر و
بـاد شاه پـه کنـد هار زوړا یې خېژ ی د لـښکـر و

* * *

جګړه یې سره وکړه ذات یې ورك کړ دسکهانو
دېره ورتـه وکړ لـه سړ و پـه بیا با نـو
یو رندولی‌مې‌شته په پایمال(۱)کښې در ند انو
راغی احمد ګل جوړ شو زلزل په شا عرانـو
یو ځلـی مـې په خپـله غـزا وکـړی پـه اول کښې
چا وې چه دو ست محمد غا زی‌سنبا لشوپه کابل‌کښې
احمـد ګل راغـی پـه قـار ، شومه شغا لـه برو بـرو
بـاد شاه پـه کنـد هار زوړا یې خېژ ی د لـښکـر و

(احمد ګل- هاروبهار)

---

(۱) پایمال ــ دابا سیند په غاړو دیوځای نوم دی .

(۲)
دوزیر اکبرخان غزا

یمه خوشحاله او ریدلی می خبر داسلام
اکبر خان راووست له کابله بنه لښکرداسلام

* * *

وزیر اکبر ویل وپلار ته ورب ته گوره
په مسلما نا نو سا عت تنگ شو لورد لوره
پو ځونه را غله د کفارو د لا هوره
په پښتو نخوا باندی یې وتړلو ور داسلام

* * *

بیا دوست محمد ویل رښتیا چه داسی حال دی
هو نن یو خبر خو مهم دارا ته یو سوال دی
چه نظر وکړم نامو جود مې بیت المال دی
ورونه مې کاندې مدد په سیم وزر داسلام

* * *

وزیر اکبر ویلې پلاره خدای رزاق دی
ځا من ز مو نن هد رو زی علی الا طلاق دی
جنگ فرض عین شود راویانو اتفاق دی
چه کفر لاند ې اصلی ځای کړ پېښور داسلا م

* * *

بیا دوست محمد وی بیره مه کړه اکبر خا نه
اوس معطل یم د ښښتن تر بنه فرما نه
داحمد شاه په شان به ځم تر هندو ستا نه
چه حکم وشی هغه دم یم زه نوکر د اسلام

وزیـر اکـبر وې معطلـی نـه ده پـه کاره
د تـوکل وسله تـر ملا کـړه خپله پـلاره
که غم ددیـن کـړې راسو ریـږه په تلـواره
چه جنګ له کفره سره وکړو خاص په سرداسلام
* * *

بیا دوست محمد وویل غا زیا نو توکل کړئ
دپښتنګا نو پـه شا ن تـو رو ته یر غل کړ ئ
ښکلی خـرا غ د پا ك نبی دشر عې بل کړ ئ
چه تیاره ورکه‌شی را وخیږی سپین لمرداسلام
* * *

وزیراکبـر و ې صد ر حمت د خدای درباندې
مه‌کړه وسواس کفر به تښتی ستاد وړا ندی
مولا بـه فتحـه دې غـازیانو ته ور کا نـدی
غور بـه وکړی چـار یـار او پیغمبر د اسلام
* * *

وزیر اکبر دوست محمد دواړه رضامند شول
په دغه کار زړونه دښو زلمو خورسند شول
خیالی ځوانان په دغه لارکښې تیرتر ژوندشول
ورسره ځوان وزیر اکبر راغی په سر داسلام
* * *

وزیر اکبر بیا دوست محمد ته وې ای پلاره
زه سرو مـال دواړه ښندم د خـدای دپـاره
یا به سکهه ورك کړ م یـا به درنه شم‌دو باره
که ژوند ی را غلم بیا می مه بوله پسرداسلام
* * *

بیا دوست محمد وې افرین دې وی ای زویه
خدای دې په دین هم په دنیالره سرخ رویه
د شهادت او د غزا مرتبه لویه
که خوك يې مو می هغه کس دی بختورداسلام

* * *

محمد اکبر محمد افضل میر حیدر واړه
د جنګك دپاره راروان شول سره واړه
ورته ولاړ ؤو مخلوقات په هسکه غاړه
عجب ځوانان ترې چاپېر تله دروګو هر داسلام

* * *

ټول شهبازان په ګډه راغله له کابله
په ډیر شتاب شتاب يې يو کړ دوه منز له
راغله ډکې ته مصلحت شو يو له بله
پښتني ننګك باندې يې ورك کړوداخطرداسلام

* * *

تمامی خلق په دې ځای باندی قرار شو لو
لکه زمری دچپاوونو په اختیار شو لو
کفار له وېرې سره واړه ټول په غار شو لو
چه سپاره ګرځی لور د لو ره لرو بر داسلا م
* * *

اوس اینده چه خدا ی کو ی هغـه به کـېږی
امیدمې شته چـه کافـران بـه و شر میـږی
شو ل نـا آرا مـه پټ ورو، ورو سـره‌غږیږی
چه مونږ به ورك کړی امیرراغی زور ور داسلام

* * *

یا دونه: داشعر د (پښتني سندری) له کتابه واخستل‌شو
چه هلته يې شاعر نه دی معلوم .

(۳)

دیوسفزو غزا

داچاربیته د۱۸۲۳ع کال په هغو جنگونوپورې اړه لری
چه دیو سفزو او سکهانو تر منځ تېر شوی دی .
دشاعر نوم یا تخلص«موبزی»دی .دجګړی زیات تفصیل
دمرحوم قاضی عطاء الله خان د (پښتنو تاریخ) د پېښور
چاپ (۱۹٤۷ع) ۲٤۰- ۲٤۱ مخونو کښې کتلی شئ .

قاصد دباد شاه راغی یو سفزی ولړ زېده
په نیت دغزالاړ شه په نو ښهر ور ژېده
قا صددبا د شاه را غی را لېږلی عظیم خا ن
د اوله یې جرګه کړل ملایان او ملکان

دارو ګولی په مادی در ګوم به خرځ تاوان
الفا ظ یې خو ږ شکر وو په هرچا به لګېده
* * *

الفاظ یې خوږشکروو پرېراضی یوسف نامه شوه
راتلل به ځای ترځایه نه یې خوب نه یې دمه شوه
خپل کورپه هرچا اور شوپښېنمه داسی علامه شوه
توکل دعا یې وکړه سېلا بو نه بهیده
* * *

توکل دعایې وکړه اکوزی وو په زر ګو نه
را تلل یې مشران دسیند په غاړه لګه غرو نه

دزغرو يې خلکې(۱) وې دوشالې يې په سرونه
دحسن پــه صفت يــې باد شا هان هو سيــده

* * *

دحسن پــه صفت بەيې لګيايم خو خو کالــه

ګلونــه دګلاب وو خــزان توی کړه زما لالــه
ساتل به ميندو خويندو الله وروستل قضاله
اجــل يــې پــه ډيرو وودلته هسی لــويږده
* * *

اجل يــې په ډېر وو واشيز وو کــړ له تو ر ه
رحمت په سلا رزو شه مدعايې کړه حضوره
نران دی ګدا يزی سرونه ،نه اړيی له تر بوره
خــا وند ه خــد يخــيل دپښتنې کله تــښتيده
* * *

دپښتنې نــه جار و زی نــو ربــز ی دی اژ درا ن
مدام يــې صف جــنګی وی دوښکلو په ميدان
دالله نومچەبەيېواخستتړيبەماتشولوسکهان
دنخــښو د ګمنډ ه يــې رنجيت و و ير يــده
* * *

دنخښو په ګمنډ کښې شهيد شويدی پير خان
دقام په مخکښې مړه شو فيض طلباولطافخان
شيرداد، محب الله روښه پرې ميراتشوسرورخان
اسمعيل زی دلوی ملا سره لعلونه تو ئيــده

---

(۱) خلکه ــ يو اوږ دچين ډوله کميسدی .

اسمعیل زی دلوی ملا په مخ کښې مړه شو امانت
معصوم او عـدل شاه دې الله کانـدې پـه جنت
دو ښکلو جنګ یې وکړو په میدان کښې ښه ساعت
په مرګ یې په آسمان کښې ملایك وژړ یده

* * *

به ز مـکه ژ ا ړی چو نـه ملا یك دی په آسمان
یو چړك په ناړه پر یوت اخوند خیل شو بندیوان
مرګه پورې پلار دحضرت دین کوی ارمان
میرات یې پالنګونه په میدان خـاورې کېـده

* * *

میرات یې پالنګونـه پـه میدان شولو یوازی
ژا ړی خو یندې میـنـد ې کلمې یې کړی اغازې
خاو رو نه شوی لاند ی هغه ښې پګـړی درازې
په صفت یـې مو یز ی لـکه فو لا د وویشېده

* * *

صفت د یوسف زوکوم چه قتل یې کړو خان
په مخکښې یې تمام شو پیر ملا او صاحبزادګان
به دوزخ کښې به کفاروی په جنت کښې مومنان
هر بیت د «مویزی» لـکه مرجان بیه کېـده

(٤)

دسوات داخون صاحب غزا

په ١٨٣٥ ع کال کښې امیر دوست محمد خان دسکهانـو خلاف دجهاد اعلان وکړ او اخون صاحب سوات ته یې دې جهاد کښې دشاملیدو دعو ت ور کړ .

دی دسوات ، بونیر اونورو علاقو دسلګونوغازیانوسره روان شو اخون صاحب او دهغه‌مریدان دامیردوست‌محمدخان سره یوځای شوو او دپېښور په نهه میلی کښــې سکها نــو سره مقابله وکړه (١)

ددغه غزا دسترګو لیدلی حال دحضرت اخون صاحب مرید «ولی محمد» لیکلی دی :

تیرې تورې یې په ملا کښې اویز اندی
چقماقی ټوپک یې پاس په اوږو باندی
کمربند سره وې ملاد دوی تړلي
او سرې سترګې په وینو وی‌لړلی
په دبد ب سره راغلی‌وو دوی مست
ددښمن به پرتوګانې شو ورته سست
په غوټه کښې وو چالاکه لکه باز
ترې مرغۍ غوندې دښمن کاوه‌پرواز

---

(١)دسوات اخـون‌صاحب پــه رسا لــه کښې وګو رئ چه نصر الله نصر لیکلی‌ده او په ١٩٦٤ ع په پېښور کښې چاپ شوی ده .

چه به یې چغه دښمن واورېده په غوږ
غور ځوه به یې د خولې نه ورته زګ
مومنان پسې او چت شو د هر لورې
و د ښنو ته یې ښو د لد اسمان ستوری
سپینې توري ګویا وریځ وه له اسمانه
سور باران ځنې د وینو ؤ روانه
صیقل توروکښې برښنا وه لکه برق
په تلوار به یې دښمن کاندی غرق
هر طرف ته د مرګی ناري سوري وې
لکه ګرګی په سږ و ایښی اړي وې
چه ګزار به په دښمن وکړو کوتک
هیڅ حاجت نه ؤ د توري د ټوپک

روغ تندی باندی به یې وو اهه یو ډب
سر ګردانه به پرې پریو و تپه یو غرب
په ګوزار کښې هسې درونډ ؤ لکه ګټ
نوم یې ایښی ؤ پرې باندې دښمن چټ
دښمن و ټکاوه سر په دواړه لاسه
چه کوتک نه دی وسله ده دهراسه

(٥)

ددلاسه خان غزا (١)

غزایې له کافرو سره ډېر ې و کــړې ر بــه
په ور ځ دا خر ت د لاسه خلا ص کړې له‌عذابه
* * *

سکېه ورته و یل چه را و تلی یم پــــه ننــګه
نور خلق مې ر عیت کړه د لاسه‌ته ځم‌په بلنګه
پیسه نه را کــو ی کو ټ اوکــلا به یې‌کړم ړنګه
که لږکی د ر نژدې شوم دی به‌کړم سینه کبا به

غازی د لاسه وې سکېه له‌تا نه نــه وېــر یږ م
تندی مې درته ونیو په غزا د ې خو شحا لیږ م
نظر دی د پیــرا نو په کــا فرو تل بــر یږ م
یوکس به دې پر ې نه ږ د م‌تر آټکه تر پنجا به
* * *

سکېه ورته ویل د لاسه مه کړه سلا مې شه
دجنګ طاقت دې نشته په رښتینی کلا مې شه
را جه ته سلام وکړه په توبه په عا جز ی‌شه
دا ملك به تا ته بخــش کړ مله بنو تر نیلا به
* * *

---

(١)دلاسا خان د بنو د علا قې یو مجا هد او غـــا زی
پښتو ن ؤ .

غا زی د لاسه و ې زما په کار نه دی ملکونــه
غزا در سره کړ م په کار مې نه دی منــصبو نه
که چېر ی شو م شهید الله به را کړی جنتو نه
دنیا وا ړه فا نــی د ه چه پیدا یــو له تــرا به

* * *

دسکهو لښکر را غــی د لاسه و ته د ېره شـــو
شپه او ور ځ یارانو په جګړ ه او په دنګه شو
جنګ یې په تو پو کړ د لا سه ور ته تکړه شو
لو یه زلز له وه و یړ کی نجو نې شول بې خوابه

* * *

غزا یې د کا فــرو سره و کړ ه په قلــعه کښې
صفت به یې کوم چه خدای رحمت په دلاسه کې
شکر دې وی خدایه چه شو پاتی په پرده کښې
ته یې مــبا رك شـــې د هغه جــها ن منــصبه

* * *

غزایــې دکا فــرو سره و کــړ له غا زی شـــو
ګورئ یا را نو ذ وا لفــقا ر د شیــر علی شو
صفت یې ټول عالم کاګنا هو نو نه چا ندی شو
جنت حو رې یې خپلې کړې رښتیا ده له کتا به
غزا یې له کــا فرو سر ه وکــړ له غا ز ی ؤ
لښکــر دبنو ځیو ور سره کښلی چاند ی ؤ
ســراج وایی بیتونه په هندو ا نو عا د تــی ؤ
سکها ن یې کړه په مخه ځی به چېری بې مذهبه
(سرا ج- هارو بهار)

(٦)

دبالاكوټ غزا

دسيد احمد بريلوى دهغه جنګ چار بيته چه لهسكهانو سره يې په بالاكوټ كښې كړى

دغه غزا په ١٢٤٦هکال شوى ده .

* * *

سيد احمد شاه باچا دې بو لى بهرامخان مو لو ى
پهكونهار جنګ دیکونهارشوپهتا بوستان مولوئ
سيد احمد شاه باچا دې بولى خنګه حال دينه
ده وى مردو د و هم را كړى خداى اقبا ل دينه
داسلا م ننګ نشته غا لب خلــق ار ذا ل د ينه
دزړو تو پې خلاصيدې پر ې شهينا ن مو لوى
د زړو تو پې خلا صيد ې چه ۀ زهار وو نـــه
زمكــه اسمان شو تر بزمی چه دوند غمبار وونه
دمو لوى صا حب په لاس كښې ذو الفقارو ونه
چهلهمردودسرهيېشوجنګپهسپينميدانمولوى
چه له مر دودسره شوجنګدلعلمحمدكندهارى
سيدانو ماتى و كړه ووحيرا ن و لاړ ګبر ى
دجنګ تدبيرونه شووه هغه و رخ دلرى (١)
پورهيې نهوه ژ وبل لاړشو ناصرخان مو لو ى

---

(١) لــر ى : (ف ، ز ، س) شكست و مغلـو بيــت پښتو قا موس .

دا ناصر خان غازی د توري یو مز ری ؤ خلقه !
غازیانو هېڅ کمی ونه کړ ډېری لری و خلقه !
ټکی یې وکړه هرچه نوم یې ګبر ی ؤ خلقه !
ډېری یې پورته کړی روان شوداسیدان مو لوی

* * *

سید احمد شاه باچاروا نشوکوزشولګر ي وته
کفار پرې ډېرشو غلبه دی یې پرې نه بنوخبرې وته
حورو پیا لـې ور لره راو ړې زر تر زره و ته
خدای دې له خپلمې تا سو کاندی جنتیان مولوی
(ګل محمد ـ ها رو بهار)

دامبیلې جنګ

« امبیله دمردان دضلعې دپولې نه اخوا په بو نیر کښې یو وړوکې شان کلې دی ... »

« د ۱۸۵۷ع دآزادۍ دجنګ نه پس دهند دمسلما نا نو یوځیانو یوه ډله د «ایسټ انډ یاکمپنۍ» دلښکـرنه را ښیلـه شوه اوځان یې دبونیر غرونو ته ور ساوه .

دلته دوی دسید احمد بر یلوی او اسمعیل شهید لـه ډلې سره چه مجا هدین بلل کیدل ملګرۍشول ، دغومجاهدینو په دغو ورځوکښې د «مهابن» دغره دقطب پورۍپه « ملکـا » نومې کلې کښې استو ګنه‌کوله . په کال ۱۸۶۳ع کښې د غـو مجا هدینو چه دبو نیر خلك ور سره ملګری وو دپیرنګیانـو خلاف دغزا اعلان وکړ او ...»

«په دی جنګ کښې دپیرنګیانو دپوځ ډیر عسکر و ژل شوی وو او ډیرغازیان هم شهیدان شوی وو .»

مرحوم میا ضیا ؤ الدین ددغې پیښې تاریخ او تفصیل‌په یوه مقاله کښې لیکلې‌دی‌چه دپښتوپښتواکاډیمۍ د(پښتو) مجلې د ۱۹۶٤ع‌کال په اوومه ګڼه کښې خپره شوی ده. پـه همدی مجله کښې دمقا لې نه وروسته درې چار بیتی هم‌چاپ شوی دی چه په دغو واقعا تو پوری اړه لری .

(١)

دبو نير دجنگ چار بيتي

په سر دقتل ګر (١) پېرنګي ډېر وکړ ارمان
شوه چيغه دخطر پسې
په ستر ګو يې تياره شوه چه ليدل به‌يې غا زيان
غم راغی سرا سر پسې

* * *

په سر دقتل ګ پېرنګی جمعه کړه پو ځونه
دی لام تړی په پورته
له ورايه به راتلل پسی بنېر وال لکه با زونه
ار يا ن يې شومه زورته
چا پېره د زلمو و ې سرې پټې چغر ډا لونه
جلی(٢) به‌شوی‌هرلورته
کولی به در فلو نو(٣) وربد يې‌لکه با را ن
را تلل به برا بر پسې
په سر دقتل ګر پېرنګی ډېر وکړ ار ما ن
شوه چيغه د خطر پسی

---

(١) قتل‌ګړدامبېلی په کنډو کښې دهغه ګټ‌نوم‌دی چه ډېر پرنګيان پکښې وژل شوی دی .
(٢) چغی ، ناری شور زو ږ.
(٣) ټوپك ، اردو توری د ی.

PROPERTY OF ACKU 6094

په ستر ګو يې ليارہ شوہ چه ليدل به يې غازيان
غم راغی سرا سر پسې

* * *

ګولۍ به در فلو و رېږد ی شو ې ریـز مر يز
ډ پـښې و ې کمشنر ته
فقير د ی معتبر ور سر ہ نه کيږی جنګر يز (۱)
ډاك يې وليـږہ په بـير ته
پلټنـی د ګـو رہ ؤ بـه په پـېر ژ ړل همـيش
خلاصيږو به مو نږ چير ته
را اوړی په سنګر په مونږ ايسار نه دی غا زيا ن
تـيغ نـه کوی اثر پسی
را اوړی په سنګرو ددو ی يې خونه کړہ ميرا ته
په ګړو کښې يې کړہ ګير
صا حبـه مـبا رك دې‌شه وطـن و ايمـه تـا ته
سېږی (۲) دسوات بو نير
دخپلمی يو سفری په اقبا ل جمعـه شو غزا ته
په بيرته يې‌وکه فېر (۲)

---

(۱) په «هارو بهار» کښې «جنګ وته» او په پښتو مجله کښې «جنګو نه» ليکل شوی دی خو «جنګريز» صحيح‌دی .

(۲) سېږی هغه وقف ځمکه ده چه مسجد يا ستا نـه دارو ته ور کړ شوی وی (ظفر اللغات)

(۳) په (پښتو) مجله د (فير) په ځای «پير» ليکل شويدی دا صحيح ښکاری .

په‌جا رو وېجرنيل چه مېدښمن‌دی عجب‌خان(١)
انګريز يې کړکسګر پسې
پـــه سر د قتـل ګــړ .....

* * *

په جار وو ې جرنيل چه سامی‌نشته‌په وجودکښې
دا خــه وشو پــسا ت
لښکرې شوکسکر نوربه‌نه ګرځم په سود ګښې
رعيت مې‌نه کړ سوات
مردار پـکښې خاونده دلاهــور هــغه مــردود کې
په بــېر ته به شی ما ت
ملاتړ و کړ پــه خو ړ د بر کــلی نــا صر خــان
ور ګله شوما زيګر پسې
پـــه سر د قتـل ګــړ .....

* * *

دبرکلی ،ناصرخان پــه ږېرنګی جــوړکړ نا تا ر
را کو ز شو ا مېلې تــه

څوك تښتی په څلورې څو کډې کړه پکښې مردار
ورتېر نه شې‌چملې(٢)ته

---

(١) عجب خان دسدوم دعلاقی یو مشهور مجا هد ؤ،چه انګریزانو په چونه کښې سو زولی ؤ .

(٢) چمله ، دبونیر په غاړو دیو ځا ی نوم دی .

په بوټونو ځی خلاص بــه نــه شی دا غــل مــار
مخ نه نیسی حملې تــه
ورسم یې کړه شاګرد ه‌په دره با ندی سګــان
اسلا م‌یې کړ اختر پسی
پــه سر د قتــل ګــړ . . . . .
شپږ میاشتې پېرنګی په سورکا وی وکړل جنګونه
ډېر شــو پکښې خرا ب
اوچت دګټ په سرور ته صاحب ویل با نګونــــه
د دو ی دسر قصا ب
تالان به یې پری ګډ کړ چه به یې ټپ کړه پرېخانګونه
قــوا عد که په حساب
(نواب جانــه)په دوی چتــر ده لمن دهغه ځـــوا ن
هرخوك دې شی‌خبر پسې
پــه سر دقتــل ګــړ پرنــګې ډېــرو کــه ار ما ن
شو ه چیغــه‌دخطر پسی
په ستر ګو یې تیا ره شوه چه لید ل به یې غازیان
غم راغی برابر پسی
(نــو ا ب)

یادو نه : الف ـ دغــه چار بیــته پــه ها رو بهار کښې ګډه وډه چاپ شوی ده دپښتو مجلی له مخه سمه کړی شوه.
بــ په دې چار بیته کښې له معتبر فقیر او صا حب نــه مطلب دسوات اخو نزاده عبدالغفور دی چه یو لوی غــا زی او بزرګ ؤ .

(۲)

معا مـله جوړه شوه دکفـر داسلا م
پکښې توی شوه د حضرت دباغ ګلونه
دانګریز لښـکر ې را غلـې لـه لا هو ره
ځینې توپې غـمیا ر ې ځینی هاتیا ن و و
څو ك خبر نـه و دد ې کا فر لـه ز و ر ه
ځینی خره ځینی ټټوان ځینی سګان وو(۱)
دبد بـه یـې وه خوره تر هـره لـو ر ه
ور سره د پښـتنو ښکلـی سپا هیان وو
له ډیلې نه یې را پور ته کړ خپل قام
په ملکا با ندې یـې جمع کړه پوځونه
معا مله جو ړه شوه دکفـر داسـلا م
پکښې توی شو ه دحضرت دباغ ګلو نه
په ملکا باند ی دېـره شو ل مجا هد یـن
په غـــزا پـسې را غـلی وو لـه لیـر ې
پېـرنګـی ور ته نیو لـی ؤ دو ر بـیـن
و ر تـه یې و ې چه شئ زما له مخه لیرې
مولـوی(۲) وې ستا بـه نـه کیږی یقـین
مو نـږ ته مـه کوه نرمـې نرمـې خبر ی

---

(۱) په ها رو بهار کښې سکا ن دی ۰

(۲) مو لوی اسمعیل ، مولوی ولایت علی او څو نـو ر مولو یان دسید احمد ملګری وو ۰

یـا به وا ړه شو و په تـا باندې تمام
یا بـه هېرکړو له کمپنۍ نه حکمتونه
معـا ملـه جو ړ ه شو ه . . .
پـېر نګی هندو ستا نو ته و کـړ قا ر
تا سې څو ك يې چه کو ئ راسره جنګ
دپو څو نو زما هیـڅ نشته دی شـما ر
دا ملکـا به کړ م په تا سو با ندې تنګ
مو لوی و ې زه به ټو ل کړ م زمیندا ر
د کنا ر صا حب بـه را و لـم پـه ننګ
کمشنـر وې زه به ور کړ مه انعـا م
که چا وکړ ه په غا زیا نو ګو زارو نه
معـا ملـه جو ړ ه شو ه . . .
دبیګی اخو نصا حب راغی له سواته(۱)
ټکا ونه یـې و نیو ه پـه امبېله کـښې
هغه دکوك پلټن يې واړه کړه میـرا ته
په با طـن به و لا ړ ؤ په معا مله کښې
وې نن ورځ ده دجمعې ګورئ سبا تـه
ځای په ځا ی به و ی مر ګو په رسا له کښې
بونیر والـو داړه وکړه پـه ما ښا م
په ګوره و به يې هر د م کړه ګوزارونه
معـا ملـه جو ړ ه شو ه . . .
په پېر نګ باند ې معامله وشوه ترډېره
بېرته تښتي که چا ور کړه ورله لا ره

(۱) دبیګی اخون دسوات اخونزاده ته وایی .

توبه ګیر شو سوات له سمی له بونیره
ډېر عالم شوپه کنډوکښې ترې مردار(۱)
داچمله یې (۲)کړه ددوی له مرګه تېره
چه را تلــه به پښتــا نه پرې وارپه وار
چه دسوا ت عا لمو وکړ ور ته پا م
با جو ړو له پېرنــګی وکړه قتلو نه
معــا ملــه جو ړ ه شو ه . . .
با جو ړ وو ې ده را پېښه لــه تقد یره
پــېر نــګی له کلکتــې شــو را رو ا ن
که له دیره پسې را شی غز ن خا ن(۳)
څو ك خبر نه ؤ لــه د ې کا فر خنزیــره
په روپو باندې یې پرېښود خپل ایمان
د صا حب په مخ کښې ویې نه کړسلام
رب د ې و ران کاندی‌دې‌کافرملکو نه
معــا ملــه جو ړ ه شو ه . . .
پېرنګی‌راغی دېره شوپه دربندکښې(٤)
دعیسی زی جرګې‌ته یې کښېښوده‌قرآن

(۱) په (پښتو) مجله کښې دا مصرع نشته .
(۲) په (پښتو) مجله کښې د (چملــه) پرځای «حمله » لیکل شوې ده .
(۳)غزن خا ن ددیر نواب ؤ .
(٤) دربند دابا سیند په غاړه دیو ځای نوم دی چه پــه امب دربند یادیږی

وې دا ما ل دولت به يوسمه په بند کښې
داملکونه به کـړم تا سو باندې و را ن
پښتنو وې راتله نشته دی په ژوند کښې
صد رحمت شه پرې پوهيږی قبول خا ن
زه (طالب ګل) يم دکاکا صاحب غلام
ما دشعر په کار کښې وپيل ها رونه
معاملـه جوړه شوه دکـفر داسلا م
پکښې توی شو ه دحضرت دباغ ګلونه
(طالب ګل- ها رو بهار)

(۳)

له هند ه د ی را غلی په غزا پسی سفر کا

* * *

له هنده د ی را غلی خو و طن یې بر یلی
اوس ناست دی په ملکا کښې جوړ وی دارو ګولی (۱)
په ډا ګه ورته ناست دی تل ثنا دپاك اکبر کا
له هند ه د ی را غلی په غزا پسی سفر کا
په ډا ګه ور ته نا ست دی تل ثنا کا د غفور
انګریز په ټوپی (۲) جمع کړلښکر ورته ګڼ ګور
لند ن تر کلکتې تر کمپنی وشو دا مذکور
دښمن دی پیدا شوی نن دې ټینګ ورته لښکر کا
له هند ه . . . . .
کمپنی چه شو ه خبر حکم یې وکړ سمد ستی
جرنیل ته یې ویل چه پکښې و نه کړې سستی
کلې (۳) به ترینه پرې کړم که خوك پاتی شوو روستی
و در بېر ه مخا مخ له مولوی سره ټکر که
له هند ه . . . . .

---

(۱) دچار بیتې دسا ختمان نه معلومیږی چه د لته په دغه ردیف یوه مصرع پاته ده .

(۲) ټوپی دیو سف زو په سیمه کښې دیو ځای نوم د ی.

(۳) په پښتو مجله کښې دا عبا رت (کلمې) لیکل شوی دی ،شاید مطلب یې «کولمې» وی .

ټکر له ورله راغی سوات صاحب په ډېر شتا ب
دېــره پــه امبیلــه ؤ پکښــې نــه وا یم کــــذا ب
لنګر یې جا ر ی کړی پــکښې ښې وریجې کباب(۱)
خورا ك ؤ د غــا زیا نــو د رو غ نه وا یم باور کــه
لـــه هنـــد ه . . . . . .

باور ز مونږ په د ې چه د صا حـــب په کرا مــت ؤ
د دیـــر غـــــز ن راغـــلی دی راوړی ډېـــر قـــوت ؤ
خبرچــه پېرنګی‌شو پرې بی‌شا نــه ډېرهیبت ؤ(۲)
فــکرو نه به یې کو ل چه نن سبا به مې‌کسکر کــا
لـــه هنـــد ه . . . . . .

کسکر یـــې پېرنګی کړ پسې راغـــی بنېـــر وال
جلی به یــې و ښکې تو رې کړ ې په منګو لډال
شاګرده غو ږ پر ې کښېږد ه در ته وا یمه دا حال
جا هل‌به‌که قایل نن به خالی ترینه سنګر کـــا
لـــه هنـــد ه . . . . . .

* * *

جا هـــل به که قـــا یل‌نن به ترېډك درله سنګر که
دمـــړو دزخمیانو اوا ز نـــه خا تـــه مـطـــلـــق

---

(۱) دامسره په (پښتو) مجله کښې داسې ده : لنګر یې جاری‌کړی ښې نری وریجې کبا ب .

(۲) پـــه پښتو مجله کښې د (ډېـــر هیـــبت ؤ)پرځای (خوف وهیبت ؤ) لیکل شوی دی .

پــه لو ښ کښې ترينــه يو ړل ملا يا نوډېر ټوپك
سګا ن دسر ګا وی د ې شا مدا مپه دوی اخترګا
لــه هنــد ه . . . . .
* * *

اختر به ګا هغه چه خوك كوی دا رنګــه کــــا ر
چه راشی مخــا مخ دښمن لــه ولی پــه ګو زار
خاوند به ورله ور کــه جنتو تــه پــه تيــا ر
له خدا يــه به دوی خلاص شی شفاعت به پيغمبر ګا
لــه هنــد ه . . . . .
* * *

په رو ی دپيغمبر ربه دا سوال می کـړې قبو ل
په دواړو ښوېې شل کړې چه کړی مو نږ سره جدول
په ټبر يې وبارا ولــې آفــت کړې پــر ې نز ول
د ډ ګر زيد الله خا ن رب دې ډ ګر(۱) په دې خطر ګا
لــه هنــد ه . . . . .
يا ديــر ی په ډ ګــر کښې زيد الله نو می نهنـګ
غازيانو جمــع وکــړه په لا لــو يې وکړ جنـګ
ورغــی په نيمه شپــه خبر يــې و کړ په فر نګ
جېمس ته يــې و يل چه نن ډير د ځــان خطر که
لــه هنــد ه . . . . .
* * *

---

(۱) ښايی چه دلته اصل ډ بر وی چــه د تبا هــی معنی لــری .

جیمس ور ته و یل زید الله در به کړم انـعـا م
دستا پـنځه انـي شولـې پـه ماندې مـد ا م
وایی (نور شالی)(۱) زید الله غر ق دې کړاسلام
دعا در ته کو م رب د ې کو ړی واړه ټبر کـه
له هنده دی را غلـی پـه غزا پسی سفر کـه
(نور شالی ـ ها روبهار)

---

(۱)دهارو بهار دکتاب د (۵۰) لمبرچاربیتی په عنوا ن کښې (نورشالی)شا عـر دا شنغر او سیـد ونکی بنو د ل شوی‌د ی .



(٤)

غزا پسی را غلی د ی په ګور یې الله نور کـه
مو لا د ې مشر ف په هر طر ف عبـدا لغفور که

* * *

غزا پسې یې را وستـل ګو جـر له بلیجی نـــه
صا حب لره را غلی دی خطو نه له مانجې نه(۱)
زهیـر شو پیر نګی چه شو خبر له د ې لانجی نه
مسواك یې ذوالفقار ملك به‌په وینو باندی سورکه
غزاپسی راغلی دی په ګور یې الله نور کـه
مو لا دې مشر ف‌په هر طرف عبدالغفور که
په بنی لاس یې‌مسواك په‌کیـڼ ږمنځ‌ده لـکه ډا ل
ګولۍ یې د ی تسبې غو څول‌کاند ی یه اقبـا ل
امسا یې ده نیز ه پیش قبض تنې پو ری خلال
کوزه یې تما نچــه ده خوله به ما ته‌دتر بور کــه
غــزا پسی . . . .
تر بور شو دانګر یز دصا حب څو مره خزانه ده
خوراك یې شکرانــه جامه یــې واړه زرغونه ده
قلعه یې چار چو بۍ په جما عت کښې ستا نه د ه
منګول به دانګریز په وینو رنګ‌لکه با تورکه
غــزا پسی . . . .
منګول یې دبا تور صاحب کم‌نه دی‌له باد شاه نه
سلام له یې راغلی دی را جګا ن‌له بد خـشا نـه

---

(۱) مانجه په پنجاب کښې یو ځای‌دی ، چه د سکـها نو مرکز ؤ

به مخ کښې ځی صاحب و ر پسې نه‌لکه نشانه
لښکر یې غیبا نه په امبیله په ځان حضور کـــه
غـزا پسې . . . .
حضور په امبیلې شو بیا صاحب وې ورته کوکه(۱)
دا ملك د پښتانه دی ترینه ځه !ځوکۍبه دې‌خوږ کا
سوات بو نیر زما رعیت‌دی ترینه لرې‌شه مشکوکه
صفت زما دتورې پـېر نگی دبهاولپورکـــه
غـزا پسې . . . .
بهاولپور کښې پېرنگی یوه ورځ د توری وکړ لاف
داملك دپېښور دی رب ور کـړی دی انـصا ف
پراته‌دی‌په‌ایرو کښې‌که ځوك پېښ شی‌پرې‌صراف
ویـل د (احـمد گل) خلـق په بیه د گـو هر کـا
غزا پسې راغلی دی په گور یې الله نور که
مو لا د ې مشرف په هر طرف عبدالغفو رکه
(احمدگل دتکړی اوسیدونکی-هاروبهار)

(۱) کوك دکوم پرنگی افسر نوم دی .

(۵)

نعا مله جوړه شوه دکفر داسلا م
ته صاحبله بری ورکړې پروردګاره!

دانګـریز پلټنـې ر ا غـلې کلـکتـی تـه
ور سره ځینـی سکـها ن ډبل ګو ره وو
پښتنو ور ته و یل چه پـه ځـا ی کښینه
بو نیـر وا ل وا ړه دملك پـه تـراره و و
چملی وال وا یی مو نږ نه خلا صیږو د ینه
دښمنـا ن یـې په ملکا با ندې ښکا ره وو
مجا هدین ور کوی سر در ب په نا م
حورې لوټ کړې نه ویریږیله کفاره
مجا هدین وایـی ز مونږ مـر ګ شها دت
په شها دت کښې تښتـه نه کړوله میدانه
کـه را سره و ی دمـر دانـو کـرا مـت
په غزا پسې را تلو له هندو ستـا نــه
با ج ګڼه کښې عظیـم خا ن شو په لعنـت
بد ی و شو ه د ډ ګـر له ز ید ا للـه نـه
په امبیله کښې صا حب و نیوه مقـام
چه لښکرې ورله راغلـې بی شماره
رحمت دېر ور د ګارپه صاحب باندې وریږی
پـه غزا کښـې مر تبـه کړ له خـر ګنده
بابا جی صا حب پـه براق با ندې سوریږی
چـه نا مه دسید اکبـر باد شاه بـلنـد ه

په لند ن کښې پېرنګيا ن تر يــنه و پريږی
په سور کا وی با ندې پرې وشوله‌نا پسنده
دبا جوړ زلمو پر ي داړه و کړله تما م
چه لښکرې ور له را غلې‌له قا شقا ره
د لــښکــر و ســره مــل د ی فــقـيرا ن
يو سفــز ی‌کله ويــر يږی له د ې جنــګه
په بو نېر کښې زو ر ور د ی ټول رندان
حکمتو نه ځکه هــېر شو ل لـــه فر نګــه
دپيــر بابا پـــالکــی او چــته په مــيدا ن
دبشو نـــی صاحب(۱) يې هم ولاړتر ځنګه
لاس په نامه زه (حميد ګل)يمه غلام
خلقه ! خير می دی مو ندلی‌له دربار ه
(حميد ګل‌دپګلی - هاروبهار)

---

(۱) دبشو نی‌صاحب محمد صديق نو ميږی چه دسوات صاحب دپيرانو په سلسله کښې راځی .

(٦)

قتل گړ (۱)

راغله غاز یا ن دپیرنګی پــه دغه ګړ با نــد ې
او ړی قتل ګړ با ند ې
را غله غا زیا ن غزا له وا ړه لور په لور عا لمه
ګډه یې کړ په شور عا لمه
داشادو مخی خدای ورکړی دی په‌کور عالمه
اخلی به تر ې خور عا لمه
توره یې نه وه ډ ز یې ور کړ په لو ړ با ند ی
او ړ ی قتــل ګــړ بــاند ی
توره یېنه وه دا و لیا ء و کرا مــت ور سر ه
ډیــر ؤ قــو ت و ر ســر ه
مولا به حو ری ور له ور کړ ی‌هم جنت ورسره
مرګ دشمها دت ور سر ه

---

(۱) قتل ګړ دا مبیلې په دره کښې دیو جګ ګټ نو م دی چه دغلته دیر نګیانو او پښتنو تر منځ کلك جنګونه شوی دی او د ډیرومړو له کبله ور باندی د قتل ګړ نــوم ایښودل شوی دی .

مولیان (١)مړه شول رامدت شی‌ای‌دسوات‌صاحبه
اوښې‌می‌خاخی برسات صاحبه
په عا جـزا نو با ندې شوی د ی پسا ت صاحبه
شو بونیر میرات صا حبه
لکه بلبـلې چه و یـریـږ ی په لـګړ(٢) باند ی
او ډ ی قتــل ګــړ با ندې
لکه لګړ هسې پـه دو ی با نـد ی شوډ ې ګولی
دوی به تر ې مـوډی‌کولې
له وېر ې تنګک شووچه غا زیا نو پری‌داډې کولې
بېل بېل به ګا ډې(٣)کولې
خلك پراته د بـر ندو (٤) په دغه خو ډ با ند ې
او ډی قتــل ګړ بـا ند ې
ډېـر به صفت کــو م په خپلــه په لسان دو لی
پو رتــه شه نشا ن دو لی
حو ری صفت کو ی په ځمکــه په اسمان دو لــی
مل یــې شه سبحا ن‌دولی

---

(١)له مولویانو څخه مطلب دسیدا حمد بر یلوی هندی ملګری دی .

(٢) لګړ : یو ښکاری مرغه دی (پښتو قا موس)

(٣)ګاډې ښایی داحا طې په معنی وی .

(٤) برندو په بونیر کښې دیو رود نوم دی .

نه ایسار یږ ی مو منا ن په دې شوپړ (١) باندې
او ړ ی قتل ګړ با ند ې
نه ایسا ریږ ی مو مـنا ن تر ینه خـطر نه کو ی
تو پــې پر ې اثرنه کو ی
ځا ن پر ې غازی کړی چه خوك دین دپیغمبر نه کوی
بد د ی چه‌با ور نه کـوی
زه (اکبر شاه ملا)(٢) ورځمه په ملا تړ با ندې
او ړ ی قتل ګړ با ند ې
(اکبر شاه ـ هارو بهار)

---

(١)شوپړ: نا سنته ته وایی .
(٢) اکبر شاه ملا په ١٢٨٠ ه کال کښې ژوندی ؤ .
دی دکو نهې کلی او سیلونکی ؤ .چه دیو سف زو یو
کلی د ی .

(۷)

دقتل ګړ چار بيته

په سر دقتل ګـړ پېرنـګی واړه شو و تـما م
ډېـر قتـل شوو افـسر

* * *

نا رې کړې کمشنر لښکر مې واړه زېرزبر شو
ناګاه نه شو م په ځان
پراته وو سواره پلی دچملې ترينه ډ ك غر شو
جهان يې کړ تو پـا ن
شهيدان شووپکښې پاتی ورته دوردجنتورشو
ښا يستـه ماه تـا با ن
غا زيا ن وو جمـع شوی ورته ډېر در وم اوشام
ز ه يـمه ښـه خـبـر

* * *

روښانه صحبت خان وينم په لاس کښې يې شمشير
مـخ نـا ړی له کـفا ره
جرګه يې ورته وکړه په سلايې کړه را ګير
خبر شو لـه کفا ره(۱)
صاحب دا مبېلی ورته کنډ و کښې شو قيا م
را استو لـو يې لښکر

* * *

---

(۱) دلته يو بيت پاتی دی .

را استولو به يې لښکر پری دفرنګ دغم نارې شوې
ژړ ل به يــې په زو ره
شاګرده په ګريوان يې دار مان اوښې خورې شوې
جــو سه يې شوله تور ه
لندن تر پېــښوره دمضر خــوشې دېــر ې دی
يوځای شو اوس يې ګوره
غازيانو و رته کښيښو د ګيرا په غر کښې دام
نيو ل به يــې کا فــر

* * *

نيول به يې کافران چه په هيڅ شان تری نه خلاصيږی
ا وا زکــه کمشنر ه
داخنګه بنيادم دی چه په توپو مې سور يږی
را ځــی را له ظا هــر ه
ګولۍ مې د ټو پکو په غا زيا نو نه سميږ ی
ګولۍ و ی بې اثــر ه
ا خر پېر نګي و کــړ په تــا دۍ ور تــه سلام
هغو ما ت کړ پرې خنجر

* * *

اخر پېرنګی ود ريد په تا د ۍ و رتــه ز هير
کا وه به يــې منت
ګو ره ډ بل ګو ره سر ه قبو ل کړه توبه ګير
پر ې تنګ هغه ساعت
ملکی پېرنــګی ووې ماله نه راځــی تــد بېــر
پر ی جو ړ يې کړ قيا مت

په ګټهو ګښې ترې هېر شوقواعد بندپرې ګودام
نسکور يې کړ سنګر
* * *

نسکور يې کړ سنګر پرې يو تربله پر يو تل
ژو ند ی شو په چغار
رحمت شه په غا زيا نو چه يې سرونه‌پرې‌کول
رب ور کا خپل ديدار
جر نيل به افسو سو نه په لښکر پسې کو ل
تر سکېږی به‌په نار
ويل مې خطا نه د ی هر سړ ی دې وکړی پام
شی ډک‌به پر ې سقر
* * *

راتلل(١)به پرې‌له ښکته دوی‌په‌جنګ هوسيدل
خبر نه وولـه حالـه
چه وبه خا تـه سر تـه په ژړا به يـې ژ ړ ل
بند ی به شو فی‌الحاله
لا يق دباد شا هت پکښې صحبت ګرځی دنام
را تـلـه پر ې برا بر
* * *

را تله پرې‌برابر پری صحبت‌خان‌دننګ سردار
ښکاره دی سوات‌په سمه

---

(١) دلته يو بيت ،چه دزنځيری چار بيتی داصو لو لـه مخه بايد د(شی ډك به پرې سقر) پـه عبارت شروع شو ی وای ،پاته دی .

وباسی پــه دښمــن پسی دملا نــه ذ وا لفقا ر
بلبړی لکه شمه (۱)
عالمه دګړ ی (۲) زید الله ورکړ خپل اسلام
ځــا ی يې شو سقــــر
په سر دقتل ګړ پېرنګی واړه شووتمام
ډ ېــر قتــــل شو افــسر
(ابراهیم ـدکالوخان اوسیدونکی)
۱۲۸۰ هـ

---

(۱) دلته هم يو بيت پاته دی .
(۲) بنايی چه اصل يې ډګری وی .



(٨)

نا څاپه غلبله شوه ټول کفار يې کړ زهير
شوپيـدا د ديـن اميـر   را اوچت شوله بور جله

* * *

ناڅاپه غلبله شوه په ټوپۍ کښې کورپه کور
دوستـا نو و کړ شور   پېـر نګی يـې کړ خبـر
ورته وايـی کهبـل وايـی غست په ز و ر
کيـا ری ته را غـی ز ور   ملا يـا ن شو لو ز ړور
رااوچت شود چاونـۍ نه پېـرنګی لکه د بور
چه راته په ډو ل ټـکو ر   منـځ کښې څه وو برادره
لړ زيږی يـو سفـزی لـکه ګلـونه دنمير
ور ته جو ړ يې کړ بهير   خبر نـه وو د زلـز لـه

* * *

زلز ل پـه کور دننـه تـېروی واړه عا لـم
ګودا مو نه په مـا ښا م   تر ينـه غوا ړ ی نوکران
ښېړ ی په صبحد م ور ته چا وکړې صبحدم
ځکه جوړ شوې پرې تورتـم   سور کا وۍ ته شوروان
شا ګر ده په سيل لاړ شود چملې پورې سپلم
بېرتـه راغـی هـغه د م   خلقو جوړ کړ پری سوران
سباله بو نېروالو پرې جنګ راوړو په زورزېر
بېرته مـات بې کـړ خنـز ير   هلته پـريواتـه معطلـه

* * *

معطله هلته پروت ؤ په ډکې کښې تارپه تار
پری راتله به وار په و ار   دمـلکـو نو مـو مـنا ن

په تو رې د زلمو کمی پر ې راغـی د کفار
ډېر به شو پکښې مر دا ر ببرته نه‌ته بـی ایما ن
پراته وو شهیدا نلکه گـلونه د کو کنـار
رب به ورکاندی دیـدار په جنت کښې هـر زمان
کلیم گویه چه گوره شو هغه شوو واړه خمیـــر
نسکور پرا ته کونې بر بنډ ې شو لې
په پیر نګیا نو میمې کونډې‌شولې
* * *
رپو ټ چې و ر و و ړ چه اظها ر
ا سلا م د ی و ا ړ ه بر قرا ر
دا کا ڼی بو ټی دې جلبل کړ ه
تو پچې با شیا نو د ستا چل‌کړه
پیر نګیا ن وا ړ ه شو دلګیر عا لمه
لمبې شو ې بلې په ضمیر عالمه
چه مسا له مې شو له خلا صه
هیڅو ك مې خو ږ نشو د لا سه
ز ه به سر کا ر ته څه جو ا ب کړ مه
باچهی نشته ز ه یې خرا ب‌کړمه
چه تا په څه و کړ نقصا ن
په جمع را غله صا حبا ن

جواب به ښه کړم د سرکار
مومند و ډېر کړم ناقرار
دناز دا نوېر خپ منډې شولې
په پېرنګیا نو میمې کونډې شولې

* * *

د چکنور ملا بهادر دی
تل یې غزا پسې سفر دی
انګرېز د ده له لاسه تنګ دی
دمحمد په دین یې جنګ دی
پېرنګیان واړه کړی زاری عالمه
ملا صاحب غواړی ترې ډېری عالمه
پوهېږم نه ډېر بېغیرته یې کړمه

په با چیا نو کښې سربښکته کړمه
زه به سرکار ته ښه عرضی کړمه
ملا صاحب په ښه راضی کړمه

ډېری کښې مو نه کېږی ګذران
په جمع راغله صاحبان
«شریف» په شانې حقیقت نشته دی
خوپه لا لپوره کښې عزت‌نشته دی
په زړه مې تو رې و ینې‌ډنډې شولې
په پېرنګیا نو میمې کونډې شولې
(شریف دلالپوری ـ دبلبل افغان قلمی مجموعه)

(٤)

دمهمند و د غزا کوم بیان
همیشه به یې کول پرې چپاوو نه
پښورکښې یې تنګ کړی پرنګیان
پرې ګول به یې دټوپکو ګوزا رونه
* * *

پرنګی شو ناعلاجه ژړا و روره
راروان شو پسې و یې تا ړه لام
د پلټنو رسا لو سره و ګوره
ویلې څمه قتلو مه خاص او عام
خبر نه ؤ دا کا پر ددین له زوره
شو را جمه ور ته ټول مومند تمام
ترې مردار یې کړل بې‌شماره ګوره‌ګان
ورنه پاتې شوبې شماره ډېر مالونه
* * *

مومندانو وکړ عرض په صاحبانو
دښمنی شوه را په غاړه زور وره
غزا فرض ده په تمامو مسلمانانو
میراثه ده پاتې شوې له سروره
هرطرف ناري سوري شوې دغازیانو
هر سړی ورباندې تېر ؤ له خپل سره
ملا بسته ور پسې لاړه صاحبان
په دعا یې سره پورته کړل لاسونه
* * *

تــرنګزو حا جی صا حب لکه شاهین
پر ې غو ټــې به يــې کولې وارپه وار
پرنګــی يې ؤتنګ کړی په خپل ژ وند
ډېر يې کړل ترينه په هغه ځای مردار
دغــزا دی خلکه داسی عــجب خو ند
هر شهيد ته به رب ورکړی خپل ديدار
خدای به ورکه د جنت حورې غلمــان
په جنت کښې رنګا رنګ دی نعمتونه

* * *

چکنــور ملا صا حب غا ز ی با در دی
چه په ځنګ کښې اچو لې د ننګ توره
ملا بسته روان په سر کښې دلښکردی
په کفا رو با ند ې ده کړله مور بوره
هم ملا دی هم غا زی دی هم زړه ور دی
کو کــو زی وو ورسره واړه لالپوره
رب دې و کــاند ې له ده سره احسان
اوس دده په حق کښې ډېر کوم سوالونه

* * *

کندهاری دی مېړنی په حق دجنګ کښې
ټول له مخــې پسې ووا تــه لــه وا ره
اچولې هرسړی توره په ځنــګ کښې
په غــزا پسې روان شو خدای دپا ره
ډېر کفاريې کړه برهمه په يودرنګ کښې
غونډه غونډه کمپنۍ به يې کړه ايساره

جنګ یې وکړ پکښې ډېر شوو شهیدان
ډېر یې غوڅ کړل دکفا رونه سرونه

* * *

خوا یز ی‌که با یز ی‌که حلیم زی دی
واړو کړی‌دی په دین باندې غیرت
کوکو زی‌که ما مازی‌که ابا زی د ی
رب دې ور کاندی دو ی واړو ته‌جنت
ترکزی که اتمان زی که بارکزی د ی
زه کومه د تمام مو مند صفت
پو زه یې کښېنو ده دټول افغانستان
پښېنو رکښې پر نګی کوی و یرو نه

* * *

دپا چا صاحب معلو م شو ورته زور
په لند ن کښې یې کمپنۍ وژړو له
فقیرا نو مو نږه او سو لو په اور
خدا ی د پا ره رانه لاس‌واخله ماسله
پرنګی وکه امیر صا حب ته شو ر
عریضې یې پورته لاړې تر کا بله
رانه منعه کړه دا نور مسلمانا ن
په انګریز باندې یې وکړه‌خه‌کارونه

* * *

اوس ګردش دزمانې شو په بل‌پیر
شو ګوزار پرې داجل غشی تا وګیره

ستاپه زړه کښې دغزا ارمان ؤ ډېر
شها دت دې په نصيب که رب و زيره
ءا قبت به شى دزمکې لاندې ز ېر
را مد د شى د بغدا د کا ملـه پيـره
خير لـه خدايه مدام غواړه دايـما ن
ددنيا نه پوره کېږ ی ډېر کا رونـه
(ملك وزير- دچپرهار دغزوکلى اوسيد ونکى)

(۵)

پېرنګی بیا و کړ اختیار   غزاجوړېږی وارپه وار
دسلا مپورپا چا په قار دی   خدای ته په طمع ددیداردی

* * *

غزا شوه جو ړه سرا سر   په حا ل یې خوک نه ؤ خبر
پېرنګی و کړ ه نا پسند ه   مد د کوه د بغداد رنده
چېرې مو ټرې که لا رې وې   که د لو ټو نو الما رۍ وې
ټول یې راجمع کړه په ښار
پېرنګی بیا و کړ اختیا ر
ټول یې راجمع کړل پو ځونه   په شمار اوه را غلل جازونه
مونږ به ساتی ترې پاکستاردی
خدای ته په طمع ددیدار د ی

* * *

مونږ به ساتی ترې پاکغفور   چه لاند ې نه شو و دتربور
زمونږه دین شرافتی د ی   سرکار بی دینه حکمتی دی
په انګرېزا نوبرکت نشته دی   دکلمی چېرته ذلت نشته دی
زمونږ شفیع رسول الله د ی   چه نا ز ولی دالله دی
توری به سرې کړو په ګوره وباندې
دهندوستان په هاډ وګره وباندې(۱)
غا زیا ن پر ې کله دی ایسا ر
پېر نګی بیا و کړ ا ختیا ر

---

(۱) ډوګره ـ دهندوستان یو قوم دی .

غازیان پرې تهول تېردی له سره
کومک یې ته وکړې سروره
پاس پرې د توپونو دنلو کاردی
خدای ته په تمه د دیدار دی

* * *

توپې راجمع کړې ښې شما ره
مد د کوه دد ین سر دا ره
ستا دا مت په زړه ارمان دی
د پېرنګی سره یې جولان دی
مولا دې ورکړی جنتونه
جنت کښې حورې نعمتونه
په کوډا خېلو کښې عمر ؤ (۱)
په توره یې د رست جهان خبر و
پکښې شهید شو خوار و زار
پېرنګی بیا وکړ اختیار
ځان پرې شهید کړه که‌تر بوریې
ډکې پیالې ګړ ځوی حورې
مخ کښې جنت ګل و ګلزار دی
خدای ته په تمه د دیدار دی

* * *

مخکښې جنت ګل د صد بر دی
ښه خوشبو یی مښک و عنبر دی

---

(۱) ملك عمر کوډا خیل یو مشهور غازی ؤ .

که څوك دمرګ په حال کښېګېرشو
په رحمتونو دخدای سېر شو
که څوك ترې روغ راغی غازی دی
خاوند تعالی ترې نه راضې دی
بلا یې ورکه شوه دسره
بیا به ونه وینی خطره
څوك به دخیال په نیلی سور وی
دچا په خونه به انګور وی
ګلونه توی شول دګلزار
پېرنګی بیا وکړ اختیار
ګلونه توی شول دګلاب
دخلکو زړونه یې کړل کباب
دګلاجان (۱) دځوانۍ وار دی
خدای ته په طمع ددیدار دی
* * *
دګلاجان ځوانی ښکاره شوه
توره یې په درست جهان خپره شوه
ځان یې شهید کړ په اسلام
وطن ته یې یو سئ په ښه شان
وطن ته یې یو سئ شهیدان دی
خلکه وژلی یې لاتهان دی
په لاس یې راوړل ترې سرونه
حورې کوی انتظارونه

---

(۱) دمومند و د یو مجاهد نوم دی .

په لا س به يـې غوځې تر ې مری کړي
خلـکه کفـا رو به زا ر ی کـړ ي
د ر سـر ه ځـو بـه پـه قـرا ر
پـېر نـګی بيـا و کـړ ا ختـيـا ر
در سـره ځــو بـه مـلا مـت يـو
د پـا ك نبـی په دين غلـط يــو
په مو نـږ ه حکم د سرکاردی
* * *

پـه مـو نـږه حکـم د وا يـسرا ؤ
د و و س پـه مو نږ ه بـې پـر وا ؤ
مو نـږ يـې را وار تـو لواورتـــه
شکـر هـزار د اسـلا م ز ور تـــه
شکـر هـزار چـه کفـر کـم د ی
د لا و ر خـا ن(۲) کړ ی قسم د ی
چـه پر ې به نـه ږ دم پېر نګيـا ن
کو ز پـه لنـد ن کښې ګوره ګـا ن
د لا ور خـا ن زو ی د نـو ا ب ؤ
چـه انګر ېزا ن تر ې پـه عذا ب وو
خلـکـه و ژ ل بـه يـې کـفـا ر
پـېر نـګی بيـا و کړ ا ختـيـا ر
د (شبېر افضل) دخولې تفسير دی
د مسلمـا ن پـه ز ړ ه اکسير دی
که خوك يې بد ګڼي کفار د ی
* * *

(شير افضل دځوکی ـ عبدالجليل سرتور)

---

(۲)دمو مند و ديو مجا هد نوم دی .

(٦)

دګنداو غـزا

چه مو مند و ته انـګر یز وتا ړه لام

په ګنداوکښې په خا پښ باندې غزاوه
عالمونوکښې ښکاره لکه مهتا ب شو
کو ړا خیلوکښې شهید عمرنواب شو

* * *

هغه ورځ دپا نشښې و خت د ز وال ؤ
دا ظا هـره ډ ك د نـور او داقـبا ل و
دجنت حو رې دی د ه ته پـه سـلام
چـه مو مـند وتـه انګرېـزو تا ړه لا م
داد توپ ګوله ما ری وه د جا زو نـو
هغـه ور ځی دند و کار ؤ د پو ځو نـو
امـر شو ی ؤ د رب پــه ده قـضا وه
په ګنداو کښې په خاپښ باند ې غزا وه
شهادت دې مبا رك شه بخـت بلنـد ه
ستا ره د ې په جنت کښې شه خر ګنده
دی جو ړه دانوربیګك زیا ت یی ثواب شو
کو ړا خېلو کښې شهید عمر نواب شو

* * *

پیرنـــګی یـــې کړ ګنداو باند ې بې پته
ځغلولې به یې ډولۍ چوړیانو ښکته
پکښې ووسك اوګوره را شپو ت هرقام
چــه مو مند و تــه انګر یز وتا ړه لا م

* * *

چه سالار یې کړ خبر لاټ شو مردار
و لا یــته پــو ر ی شو خپــه کفا ر
باد شا هانوکښې شوسپكدایې سزاوه
په ګند او کښې په خا پښ باندې غزاوه

* * *

کندې ډ کــې کړ ې مو منــد و پــه کفا رو
وایی اتلس سو ه پــو ځ یی مــر دا ر و
څوكډایی دومویشت سوه زیات وکم حساب شو
کو ډا خېلو کښــې شهیدعمرنواب شو

* * *

با جو ړ او اینځــر ی نه یی کړرا غونډ
په ګنداو کښې په اوبو یی کړلو پنــډ
یو المیر (۱) دپیــرنګی ؤ خــاص غلام
چــه مو مند و تــه انګر یز وتا ړه لا م

* * *

ور معلوم شو د خو یزی با یز ی قو ت
بل سا پو و ر با ند ی کــړ ی ؤ غیرت
جو ړه شو ې حلیمزو له دا نــزا ع و ه
په ګند او کښې په خا پښ باندې غزاوه

---

(۱) ملك المیر دګنداو الیم زی او دانګریزانو طرفدار ؤ .

ښه زلمی ښا یسته ټو پك ولیده زو ر
پیرنګی کړ په ګو لیو باند ي تو ر
په لا لو نو می ار زا ن هریو القا ب شو
کو ډ ا خپلوکښي شهید عمر نواب شو
* * *

مقابل دي د جنت حورې دي خنګ‌شه
وړاندي‌وروسته‌دي‌ښکاره‌توره‌دننګ‌شه
تا غیر ت کړ ی په خدا ی او په کـلام
چه مو مند و تـه انګر یز وتا پـه لا م
* * *

پکښي شته شا ت وشراب اوبه اوشیر
دجنت مانۍ ښا یسته پکښي بهیر
دعمر نواب پـه مرګـك در ب رضا وه
په ګند او کښي په خا پښ‌باندي غزاوه
* * *

دا صفت دخا نزاده عمر مو منـد د ی
چه دښمن دپیر نګیانو دلند ن د ی
سپین جبین یي په سرووینوکښي‌ګلاب‌شو
کو ډ ا خپلوکښي شهید عمر نواب شو
* * *

دانګریز نه چه رو پۍ اخلی کلدار ي
په قیا مت کښي‌جهنم کښي‌به ایساروی
خله طمعه کـړی دد یـن او دا سـلا م
چه مو مند و تـه انګر یز وتا پـه لا م
* * *

چاچــه والی(۱) وی سر ك د پــیر نګی
پــه قیامت کښې به لګی و ی د مو ذی
لوی سنت لکه با مبر دا یــی جــزا وه
په ګند او کښې په خا پښ باندې غزاوه

* * *

بل یی ورور خانجان غزاکښې شووفات
په جګړه کښې د دې رې سم مې ابیات
چه خبر حضرت ولی په دې حساب شو
کو ه ا خېلوکښې شهید عمر نواب شو
(حضرت ولی)

---

(۱) والی ـ وهلی .

(۷)

پرنګی راغی په ګندا و کوی جنګونه
مخې ته درومی دسرحدواړه پوځونه

نن داسلام ختلی لمر، قریب دی لو ېږی
د زړو نو شمع په سلګی ده مړه کیږ ی
دښمنا ن شا ؤ خوا ز مونږ نه خوشحالیږی
طمع یې کېږی داسلام په وطنو نه
* * *

مومنه وینس شه ته اعلی یې په جهان کښې
سیاست ګوره په حدیث وپه قران کښې
بیرغ دفتح دی ښکار یږی په اسمان کښې
رو ګردان مه شه دقران له آ یتونه
* * *

داټولې ورځې چه ژړیږی مسلمان د ی
که و زیر ی که اپر ید ی دی ټول افغان دی
په ملیزو او سلار زوکښې نن سوران د ی
چه ورته ګورم زړه مې سوزی په او رو نه
* * *

نن هغه حشر دی جوړ شوی په افغا ن
پرنګی راغی پـه ګندا وشـو را عیا ن
غزا ته درو مې چه هر خوك وی مسلما ن
ګوره خا پښ باند ې ښکا رېږی بیرغونه
* * *

حاجی صاحب په دې ضعیف صورت بهرشو
هاشین یې واخستو په سرکښې دلښکرشو
دماسل خان او دبازوان ټبر خبر شو
صد آفرین شه د غاز یانو په صبر ونه
* * *

دکوډا خپلو نه راضی یم په خپل ځا ن
شور او لاړ په یوه چیغه په یو آ ن
خو یږی په سرو مال اړنه دی په هیڅ شان
دخپلو وروڼو سره یې وکړه کو مکو نه
* * *

مجاهدین مها جر ین په ډېر ا خلا ص
شو لو حا ضر په ډېره مینه بې وسواس
غیر ت یې کړی دی په دین دخیر الناس
دپا ك الله نه دې په دو ی وی ر حمتو نه
* * *

بیا د لا لپور ې غا زیا ن را غله په حشمت
په وسله پورقریب دوه سوه وولا زیا ت
ډېر په اخلاص په دلسوزی کوی خد مت
هیڅ نه وېرېږی دکافر له جها زو نه
* * *

دحلیمز و ځوانا ن دشپې و ژنی کافر
د وی په دوستی کښې دښمنی کړه ورظاهر
هره ډاکه کښې سل دوه سوه وی حا ضر
کا فرا ن مر ی په هره شپه باندې زرګونه
* * *

له هر طرف ځنی را جمع شوه غا زیا ن
اور ته را ځی له خپلـه لا سه پـتنـګا ن
دیـا چار یـا ر نا ر ې او چـتې په اسمان
او ری کا فر - شوه ورنه پاتې تدبیرونـه
* * *

افسوس دی خه شوې بهادره پهلـوا نه
دچکـنو ر مـلا صا حبه ما سل خـا نـــه
نن د مر دی ورځ ده حا ضر شه په مړا نه
ستا د قبر نـه مو کـېږی ا میـد و نـــه
* * *

ظا لم ته ګو ره توپ تفنګک لر ی بـېشا ن
پو ځ یې په ځمکه جاز یې دروهی په‌اسمان
که خدای ګوی قو ت هم ډېر دی دا فغـان
پـه خپـل و طن باندې تېر ېږی‌له سرونه
* * *

په ټول اسلام کښې نن عـجبه غلـغله ده
هر چـا اخستی په کافـر پسی و سله ده
که کا فر لا ړ شی دغه چا رەورته بنـه ده
ګوندې راځـی دپښتنو وارە قو مـو نـه
* * *

په داسی شان جنګونه و شوه پـه ډېر وار
کافر په هره ورځ مـړه کېږ ی بې شما ر
دشهادت جامونه خکـل شی پـه هـر وار
ځوانا ن دا خـل شو د جنت پـه محلونه
* * *

په سفر لاړ د کو ډا خېلو عمر خان
ور سره نور هسې ز لمی او ښه ځوانا ن
زه بـه د عا و رتـه کـو مـه پـه هر آ ن
وا ړه مـغفو ر د ی هسې و ایې کتا بونه

* * *

پـه شهيـدا نو مـې تبر يك د شهادت‌دی
په ټو ل غا زيا نو مبارك فتح ونصرت دی
زن کافر وړ ی په خپل کارکښې‌خجالت‌دی
بیا دپښتو ن نـامه بـه نا خلی په کلـونه

* * *

«خادمه » ښه دی دا بیان چه اوس اظهار شی
په اشتهار د مجاهد (۱)کښې انتشار شی
امید مې ډادی چه پښتون ته بهٔپه کا رشی
چه مسلمان وی پرې به وباسی شکر ونه
۱۵- دميزان ۱۳۱۲ ه ش
(قیام الدین خادم ـ دمر غلرو امېل)

---

(۱) مجاهد ، ديو اخبار نوم دی چه‌په چمر کنـډ کښې دمجاهدينو له خوا خپريده . (ر)

جنګی بیتونه

شهیدان مونږه له ظلم د فرنګ یو
په سروینو دخپل دین ټول لاله رنګ یو
په ارمان سره ژړا په مونږ مه کا ځئ
ښایسته حورودجنت سره همځنګ یو
دا ویا تنو خپلو ا نو شفاعت کړو
داعزت مونږ لره بس دی خوش آهنګ یو
دوطن ګټل په ننګ او په غیرت شی
که خپل ځان موقربان نه کړو بیا بې ننګ یو

پاځئ وروڼو پښتنو ځان قربانی کړ ئ
په شنو سترګو دفرنګ تېره خدنګ یو
حورو تاج در ته نیولی پا س په سردی
انتظاردحورو بس دی بیا په خه باندې دلتنګ یو

مونږ به هله په غزا کښې توریالی شو
دغیرت شمشېر په لاس په جنګ تفنګ یو
هزار ځله اقبال مندا و بختیار ظفر آثار یو
چه رضا درب دپاره سور فرنګ سره په جنګ یو

چه سر خېل مو بابا جی صاحب غازی دی
همیشه غزا کوی درب دپاره فیروز رنګ یو
یا الله لوی نصرت فتح و ظفر زمونږ نصیب کړی
په حرمت دپاك رسول(ص) بیا فاتح جنګ یو

د غا زی شهید عمر خان کو ډاخېل نه(۱)
روحانی بیان (قاری) کړی ظفر چنګ یو
ارجمند خان ،عوض خان ،حاجی میا جان هم
مسعودخان حاجی ته عرض کړو په پښوشل او په لاس لنګ یو
دمیریحی جان نو جوان (۲) اوجعفرخان میراحمد ګل هم
د شهید کا کا سعید مو په خو ن رنګ یو
عالیجاه محمد امین او لعل سید د لاورخان هم
تعز یت کړ و له ډېر غمه په زړه زنګ یو
عجب خان او یا دمیر خان حاجی بل وروردحج یې
معذ رت کړو ډېر غمجن نری له چنګ یو
د(قاری)زړګی به هله له غم سپك او هم به یې ورك شی
چه کافرله وطن ورك کړی دفرنګ په سر کلنګ یو
(قاری عبدالمستعان- دسره کمراو سیدونکی)

---

(۱) ملك عمر کوډا خېل دخاپښ په غزا کښې په ۱۳۵۲ هـ کال شهید شوی دی .

(۲) دمیریحیی جان نه دشاعر مراد بناغلی میرا جان سیال دی .

دباجوړ اوجندول غزاګانې

(۱)

دعمراخان غزا

غـزا دبا جو ړ غـازی عـمرا خا ن(۱)ته
دا واړه شرارت پکښې دمیارحیم(۲)بسیار
په لمسه دسر کار

* * *

غزا وه ز ما و رو ره کارونه در ب ګـو ره
خلاصی ز رو نـه شو چه خبر ه شوله ز یا ته
غاز ی عمرا خان تـه

* * *

زیاتی شو له خبـره غو ږکښېږ ده برا دره
پوځونه عا لمـو نه ډېـر غا زیـا ن شولو تـیار
په ...

* * *

تیار شو لـو پو ځو نه بې شا نه عا لمو نـه
حا ضر شو لو دی خان ته چه ته حکم کوی چا ته
غاز ی عمرا خان تـه

* * *

---

(۱) عمراخان ، دباجوړ د جند ول خان په ختڼه تـر کا ښی مست خېل دی .

(۲) میا رحیم ،کاکا خېل .

بیان‌خان‌ویل‌برخوردارانو تول‌تاسی‌بهادرانو
دښمن ز موږ کا فر دی چه لمسو ن کوی‌هرچاته
غازی . . .

چه‌خوك يې‌لمسون‌اوری هاتل‌په دنيا خواروی
امیان که ملا یا ن دی نوا با ن شوو خد متګا ر
په لمسه دسرکار

خدمت‌د پاك رسو ل‌کړئ طا عت در ب قبول کړئ
په اجر کښې به‌در کړی ښا يسته حورې بی نهاته (۱)
غاز ی عمرا خان تـه

* * *

بی‌نهاته(۱) ښايسته حورې بربښ‌کا لکه د تو ری
غا زيا ن‌بـه پر ې و يـد ه خو ب کوی بی‌په خـنګلـو
ښه شو ربه د بلـبلو

* * *

زه چه (پائينده خان)یم(۲) تل پـه دې‌ارمـان یم
پـښتو ويـل کومـه تـو ل په دې وکړئ ا تـبا ر
(پا ينده خان)

---

(۱) بې نهاته ـ بی نهايته .

(۲) پاينده خان دشیرعلی خان زوی په ختهه سالار زی دباجوړ دبرسدين دباتمالي اوسيدونكي او يوملی شا عر دی.

(۲)

دتیلی توره

په کامرانی(۱) کښې توره وکړله تیلی
خلکه مه يې لتوئ شهید به وی
* * *
تیلی روان شو په غیرت مخلوق یې اوس کوی صفت
په دې کښې نه دی ملامت
مور چې ته پروت ؤ ښه زخمی ؤ ارمانی
خلکه مه يې لټوئ شهید به وی
* * *
تیلی ښایسته لکه دګل ؤ چغار پرې خېژی دبلبلو
ځکه را غلی یی اجل ؤ
که یی صفت کوم دده ښا یسته ځوانی
خلکه مه يې لټوئ شهید به وی
* * *
تیلی به دا کا وه اواز مور چې له درغلمه ساز
ځکه غوټه کوم دباز
د ځان نه تېر یم اوس مې سر دی قربانی
خلکه مه يې لټوئ شهید به وی
تیلی و یشتلی ؤ د واره ځکه و تلی ؤ د کاره

(۱) کامرانی ددیر په ریاست کښې دیو مشهورغره نوم دی .

په لار کښې پرو ت و شو ښکـا ره
غازیانو راوړو اوس یې کړه مهربانی
خلـکه مـې لتو ئ شـهید بـه و ی

* * *

چه پا ینده خان کوی صفت الله دې ورکاندی جنت
دغه کا رو نه د قد رت
مسـایـل وایـی ښه خـوازه د ی زبـا نی
خلـکه مـې لتو ئ شـهید بـه و ی
(پایند ه خان)

(٣)

دچكدری غزا

ټوپك دچكدرې(١) نه   غلو و يوړ بنګلی نه
رسا د ملكنډه ور له را غله پېرنګيان
ور ته ودرېدل حيران

* * *

ټوپك يې كړ ترې پټ   سوری يې كړ پرې ګوټ
غله لاړل خنګك وخت   چه دانګرېزدخطرې نه
ټوپك د چكدرې نه

* * *

انګرېز وكړه تدبير   بې شانه شو زهير
غله لاړه هوا ګير   چه په درګی شوورله پنډه
رسا د ملكنډه

* * *

پېرنګك وكړه دا لا په   ميمانو(٢) ته دا شاپه
اسلام به كړم خرا په   پسې زه به شم روان
ور ته ودرېدل حيران
ميمانو ويل سركاره   وتلي يې له كاره
ته اوس به شې بېكاره

---

(١) چكدره د مكلنډ نه پورته د سوات په برید يو ځای دی .

(٢) دپېرنګيانو ښځو ته پښتانه (ميمې) وايي .

دا نوی حکم پر ېږ ده پــه زا ړه دې وکــړه پا م

ګو نسل به وکړوټول   د ې نو ی معا ملی نه
ټو پك د چکد ر ې نــه

* * *

انګرېزان شولو راټول   ټول مونږهشوبی کور
په دېکار کښېرضا ده چه ټو لوکړوپکښېغونډه

رساد ملګنډه

* * *

قانون يې کړ ر و ان   ز مونږ د غــه ار ما ن
چه ګو م پکښې بیا ن   و رته ود رېدل حیران

* * *

انګرېز کو لــه لا پــه   اسلا م به کړم خراپه
مومنډ مې ګډا ونډيا ن دی ښی ډېلی مېورکړیدی
ټو ل مې غلی کړی د ی

* * *

کافر به شی له خپلمه   د نو ی ما ملــې نــه
بل فکر زمونږ دادی چهداکارکړو بی اسرې نــه
ټو پك د چــکد ر ې نه

* * *

اسلام دی اتفاق پکښې نشته‌دی نفاق
تباه دې شي هغه چه ځی را نه په څنګه
رساد ملکنه

* * *

ویل دپاینده خان افسوس ارمان ارمان
ددنیا کارونه دادی چه په زړه‌می دی خپګان
ورته و دربده حیران

(پاینده خان با جوړی)

(٤)

دملکنډ غزا

نصر الله نصر د(اخون صاحب سوات) په کتاب کښې داسې ليکي :
په ۱۸۹۷ع کال کښې ميا ګل عبدالودود او سرتور فقير (ملامستان) دانګريزانو خلاف دجهاد اعلان وکړ.
دسوات يو سفزی د سرتور فقير دجنډې لاندې راجمع شول . په چکدره او ملکنډ يې حملې شروع کړې . سختې مقابلې نه پس پېرنګيانو ور سره سوله وکړه .
دانګريزانو دپوځ کشي حال (ملا مقصود) شاعر چه هغه زمانه کښې ژوندی ؤ په لاندېنی اشعارو کښې بيان کړی دی .

انګريزو بيا ترلی لام دينه
خنګه جنګونه په چترال کوی
پروت په درګی ور ته ګودام دينه
اخلی سوات دبونير خيال کوی
انګريزو بيا جمع لښکر کړو نه
حيران په فکر کښې دوب لاړ مه زه
په ملکنډ يې حکم ورکړو نه
تل داسلام بری به غواړمه زه
ما خو داو پرې سرو مال کړ ونه
غنچې رژيږی څه به ژاړمه زه

د شها دت عا لی مـقا م د ی
مـخ یـې ر ڼا لکه مشا ل‌کوی

دباجوړ په حال آګـاه یمه   عمراخان داوترکـا بله ګاو ه
په بهادرانوکښې نه‌ستایمه   چه‌زوریې نه‌ؤفسادیې‌خله‌کاوه
رحمت په ښار بټ خیله وایـمه زه
سر یې کـړ دا ؤ جنګ یې‌په خپله‌کاوه

یادونه : دا چار بیته نیمګړې ده . خـو مره چه وه هغو مره نقل شوه .

(۱)
دتیر الام

ملتانزخه خېل اپرېدی په ۱۹۰۸ ع کال کښې ـ دانګرېزانو په خلاف دپېښور په اندر شیر با زار بـا ند ې حمله وکړه . د صو به سر حد چیف کمشـنر روس کیپـل دهغه په ځواب په ۱۹۰۹ع کښې په تیرا حمله وکړه .

دغه قصه ښاغلی نصر الله نصر لیکلې او د(پېښور ـ جمهوریت) مجلې د۱۹۵۷ ع دمی دمیا شتـې په ګڼه کـښې خپره شوې ده . ددغې مقالی په استناد داندر شېر دوا قعې او په تیرا با ند ېد پر نګیا نو د حملې حال مکرم نومی شاعر په ورو سته چار بیته کښې بیا ن کړی دی :

دنیا (۱) له اندر شېر ه ډاکې یو ړله ډ یره
لاټ جمع پرنګیان کړه په رعیت مې کېږی زیاته
ملا وتړ ځ تېرا ته

دنیا لـه اندر شـېر ه دا ړې یـو ړله ډېـر ه
سېټـا نو و رتـه و یـل چـه مو نږه ځوله پـېښوره
خـبر شـه کمشنـر ه
خبر شه تـه سر کـا ره غو ږ و نیسه هو ښیا ره
سودا موده په دې کښې تېرو ی مونږ د شـه شـېـر ه
دنیـا له ا ند ر شیـر ه

---

(۱) دنیا نه مراد ما ل او پیسې د ی

نصیب دوا ړ و کم شو   د ځان را سر ه غم شو
بال بچ سر ه مو بیایی اپرېدو راخستی ز یا ته
ملا وتړئ تیرا ته
بال بچ له مونږ رو ا ن کا   بیا څوك زمونږ پرسان کا
ډا که داپر ېد و په پېښور را غله بر سېر ه
دنیا له اندر شېر ه
تار ورکړ چیلا را م (١)   کل حال پکښې تما م
په را ج کښې د پیرنګ به ګر ځېدو کا غذ په غر
تا لا شو پېښو ر
خبر پر ې شهزاده شو   بېشا نه غمز ده شو
لند ن کښې پېرنګیا ن وو زېر ز بېښلی له اند بره
دنیا له اندر شېر ه
شهزا ده ورکړو خبر   دو ی و ړاند ې کړولښکر
بې تېمه ایجنټان به ز غلېد ه دجمرود خوا ته
ملا وتړئ تیرا ته
جمر ودخواکښېدېره‌شوو   غا زیا ن ور ته‌پوره‌شوو

---

(١) دبناغلی نصر په مقا له کښې وایی : « دملتان ډلی پسې چه پوځ رسېدو دوی بیا د برتا کال په لار خپل‌ملك کجوری ته رسېد لی ؤ د خیبر پو لیټیکل ایجنټ د صوبه سرحد لاټ صاحب ته خبر ور کړ چه ملتان سره دمال‌حال‌او ملګرو کجو ری ته ور سېد »ـ دنصر صا حب دنثر او ددې نظم دمقا بلې نه معلو میږی چه «چیلارام» دخیبر دپو لیټیکل ایجنټ نوم دی .

چوره کښې یـــار محمد پـه کـلا نـنویست فـر نګ
کـړ ی کفر سر ه ننــګ
د کفـر ســر ه مـل شو پـه نز د د شر عی‌غل‌شو
دو لـت یې کړو قبو ل د قیا مت ورځ شوه تر پښه‌هېره
دنیا لـه اندر شپـر ه
خپل‌دین‌اسلام‌یې‌خوارکړو پـه غا ړه یې زنا ر کړو
بد نام یـې کړ اسلا م که رب یې خونه‌کړی میرا تـه
مـلا وتـړئ تـیرا تـه
لوی لاټ یې‌ترپښه مړکړو په خاوروکښې خړپړکړو
کوټ وکړو پېرنګیا نو ځئ چه ځو تـر پښه په ببرتـه
کا ته به یې د غره سرته
ملتان پکښې سلطـا ن ؤ د ټول ا پر بد ی خان ؤ
هریو چـه به یې حلال کړو غر هر یـې کړو بر سېره
دنیـا له انـدر شپره
صفـت د مـو منـا نـو ما و کـړ ه سا مـعا نو
مـو لا د ې مـکر م په خیـر تـېر کـړ ی له صراطـه
مـلا و تړ ئ تـېرا ته
مکر م - (جمهوریتـ پپښور)

(٢)

حیران وو پر نګیان راغلی ؤ ملتا ن پوځونـه شووروان
فو ری پسې رواني هـغه دم شو ې رسا لـې
بیابه ځوك كوی حمـلې ؟
* * *

سواره‌شوودغه واړه دوی‌تلل‌پورته‌په‌باړه دیره‌دخوړپه‌غاړه
په ملك دكجوری کښې‌په یوغارکښې شو ځرګند
تقـد یر تـه نشته بند
* * *

خواره واره سپاهیان شو و په لټـه دملتان‌شوو
دغا ر په لور رو ا ن شو و
ټول شووپه لټـولودجـا سوس پـه زیـرو زور
کـه هـر څو یـې کړهنر
* * *

جا سوس یې چه خپل‌یا رو ور کړ ی‌لوی‌اعتبارو
په مر ستـه دکفا رو
هغه په کښې شهید شو شه ر حمت یې په پـدر
کـه هـر څو یـې کړهنر
* * *

پیغمه ناست ځوانان وو پوځ‌تری یودم‌شوچاپیر
ملتـا ن په تـګی ګـیر
سیـلا ب دستـې لا هـو کړ نیـزو ړی دبـاړې
بیـا به څو ككو ی حملې
* * *

ملتا ن کړ ی قسم ۓ انګر یز سره لـوی غـم و
اختـه پـه دې ما تم و
چاپیر تري‌شـغالان شوو زمری ملـتا ن تـه خنـه
تقـد یر تـه نشته بند

* * *

چا پیره ۀ ز هـا ر ؤ ګو لو پـر ی تـنهاهار و
تهو پکـو د نـد و کار و
اول ډ زکنبې کپـتا ن در سا لـې یې کړ و کـسکر
کـه هـر څو یـې کړهنر

* * *

کـپتـا ن پسـې سا لا ر دا خـل یـې کړپه نار
پر ې نبه و کـړ ه اعتبار
په پـو ځ زلزله ګډه هر پوځی تر ې تیر ا و بیر شو
ملتـان په تهـګی ګیر شو

* * *

ملتـا ن پر ې وکړ وا ر سپا هیا نشوو تار په‌تار
د خپـل لښکر سر دا ر
څـلور سا عتـه جنګ وکـړ غازی په دې میـر ې
بیـا به څو ځکو ی حملې

* * *

ملتـا ن و کړ لو جنګ بیا شو پـه و ینو ر نـګ
هـر یو تر ینه په څنګ
ملـګر ی یـې یو ځـوا ن ؤ د تو ری پهلـوا ن ؤ
ښا یستـه د ګل پشا ن ؤ

* * *

در ه کښې زخه خیل رحمت د دوی په خیل
ګلو نه د را مبیل
چمن شو لوتالاو وار د سرو ګلو نو تېر شو
ملتان په ټګی ګیر شو

* * *

د عبدالمجید سودا ده هم دا یې مدعا ده
جاسوس ته یې ښېراده
مولاد شېر غلام بچی حلال کړی په چاړې
بیا به څوک کوی حملې
(عبدالمجید ـ حبیب الله اپریدی)

(۳)
دتیر الام

لام يې را جو ړ کړ ځی چینی تـه دی روا ن پـر نګی
ر ب دې کا ستو ما ن پرنګی

* * *

لام يې راجوړکـړز ړه یـې بد په اند ر شېر و ینـم
لاس کښې یې شمشیر وینـم
ځی پـه اسلا م پسې دا پـښی يې تېـرو بېر و یـنم
هر غا زی‌پر ې شېر وینم
لا ړ د با زار پـه کنډ و وا و ړېـد و پر یشا ن‌پرنګی
ر ب دې کا ستو ما ن پرنګی

* * *

ډډ یې ز خمـی شو دخـړ ی چینی پـه سر بانـد ې
وا یـم پـه هنر بـانـد ې
جـګړ ه يې و کړ له پـه و خت د ما زیګر بـا نـد ې
سکهه يې ؤ پـه سر با ندې
صر فه پر ې و نه کړ ه غا زیانو که په ځـا ن پرنـګی
ر ب دې کا ستو ما ن پرنګی

* * *

کنډویې وا خیست بیا په سر کښې يې ډیره شوانګریز
ښه په ننـدا ره شوانګر یز
په خپل طا قت او پـه خپل زو ر ځانته غره شوانګریز
بیا پـه تړا ره شو انګر یز
لا م یـې واپـس کـه پستـنه شو را روا ن پر نګـی
رب دې کاستو مان پر نګی
(یار محمد ـ دخیبر ادب)

(٤)

عجب‌خان اپریدی

عجب خان اپر یدی یو مجا هدپښتون دی ، چه دده په مجا هدو اکثر پښتنا نه خبـر دی . دده دکار نا موپه بـا ره کښې ډېر نظـمونه او افسا نـې لیـکل شوی‌دی . په دغـه سلسله کښې ښا غلی جمشید هم یوه وړه منظومه لیکلـې ده چه په ۱۹٦۱ ع‌کال کښې‌په پېښور کښې چا پ‌شوې ده.

ددغې منظومې یوه وړه نمونه داده :

عجب خان ته دمورپیغور

فر نګیا نو تا لا شی و کړه وا پس شو
په دې کار با ند ې‌خوشحاله یوپه لس‌شو
خبر نه وو چه مو ښ جو ړ کړ ځان لـه‌ګند

پـه ز قـو مو یـې بـا ور وکړو د قـــند
دو ی‌پـه خپله‌کامیابۍ وو ډېـرخوشحاله
خبـر نـه‌دی چه به ژاړوبیـا سبالـه
را وی وا یـی عجب خا ن چه را غی‌کور ته
پـه ادب سر ه سلا م یـې و کړ و مو رته
موریـې وې زما دمخـی نه پنـاه شه
ته بـې ننګه یې تور خلی جو ړ په تا شه
زما ستر ګې دې‌کړې ښکته په‌ټول‌قام‌کښې
مـلا مته یمـه ناسته خاص وعا م کـښې

فر نـګیا نـو را لـه و ا خستـه عـز ت
ز نا نه یـې کړې بـې ستـره پـه ذ لـت
پېغلې جو نه بې پر دې کړې ظا لما نـو
هم یې یو و ړلـې ر فلې د ځـوا نـا نـو
په رښتیـا سره کـه یـې زمـا فـر زنـد
فر نـګی نه بـه بـد ل ا خلـی څـر ګند
نا مر دی که در نـه و شو ه ز مـا زو یـه
ستا په مرګ باند ې به اوښکه نه کړم تویه
نه به مخ درله زه ګـو رم په کفن کـښې
نه بـه خلی در لـه پر ېږ دم په وطن کښې
ښښتـې مینـد ې چه راوړی نـر او لا د
پـه غیر ت یـې نو م دپلا رنیکه شی یا د
پېغلې جو نه شو ی چـا پېر د عجب خا نه
پـه ژ ړ ا یـې کـړ و خبر د تـو لبیانه
ورته یې و ې چه په مونږ دېروشو ظلمونه
بې لـه تا نه چا ته و کړ و فر یـا دو نه
دبد ل داخـستو ز مـو نږ ار مـا ن د ی
ګنې ژوند دکو زو سترګو خوږېږ ګران دی
مور یـې هم به ژ ړ یـد لـه پـه زار زار
د غـصې نـه یـې مـخ ګل ؤ د ا نـا ر
ای جمشېده عجب خان ورته خاموش و
پـه بد ن کښې یـې غیر ت وهلی جوش و

* * *

(۵)

دصاحب جان چاربیته

په زړ می دصاحب جان دخیال جنګونه راځی
د سترګو مې د او ښکـو سیلا بونه راځی
* * *

صا حب جان ویل غا زیانو دامیدان دی ورګډ یږئ
ښې حورې ږ اقو نه به خدای در کړی مه ډار یږئ
اخلاص تورې و باسئ له پیرنـګه مه ویر یـږئ
دما تی سپا یا ن منـډ په لوی ګا مـو نه را ځی
* * *

په و خت دصبحد م کښې دشنو توپو غرغرې شوې
شین کفر په دوی راغی ترې چاپېرې رسالې شوې
صاحب جان مې توره ښکلی د «شاه جوی» ترخې مې سرې شوې
اوس مـر ګ ته یې ګو ره ګا نې په سلا مو نه راځی
* * *

په وخت دصبحدم کښې دغا زیانو ماتې ملا شوې
توتی پیر محمدخان لکه زمر ی شوو رته پـا تې
تر ې ویې نیوله خوا چه یك تنها شو ور ته پا تې
تر خو وهم فکرو نـه لا جـو شو نه ر ا ځــی
* * *

نور بس کړه رحمد ینه زیاتی مه کړه مجلسونه
له حده ډېر بېحد ، د صاحب جا نشو لصفتونه
نکیر منکر خو نشته چه تر ې جوړ کړی کتابو نه
تر خو وهم فـکرونـه لا جـو شو نه را ځــی

رحمدین- سید محمد دالینګار

(٦)
دچارمیسی چاربیته

له چار میسی‌نه څه ښایسته ښایسته ځوانا نلا ړه
ټو ټـپ ټو ټـپ په نری توروشهیدان لاړه
ملا خلیل و ګـو ر ه ! ځومره لښکـرور سره ؟
چـه خبرېـد ه به عالـم ته (۱) برا بر و ر ســره
دالاس نیو ی ونه‌کـړ و د ې میا حید ر ور سر ه
پلی سو ا ره‌ور سره ټول د خا لـو خـا ن لا ړ ه
* * *
مـلا خلیـل وګـو ره ! ځـومره‌خواری یې‌وکړه؟
کلی پـه کلی ګـر ځید و منت زا ر ی‌یې و کړ ه
لښکر یـې ټو ل کړ دلښکرجمع‌واری‌یې وکړه
جنګ یـې و نـه کـړ زاره‌تړکی(۲)په‌ارمان‌لاړه
ملا خلیل سره کاشکوټ اوګریکی را غلی
سورچ، مزارخه امله وال کلا ټکی را غلی
څه بوډیال وال څه دره نور څه‌چکنی راغلی (۳)
چه دتوپ ډز شو دا سرکوزی په دامان‌لاړه
* * *

---

(۱) ته د «تله» مخفف شکل دی .

(۲) زاره تړکی یعنی زړه چا ودی .

(۳) سورچ ـ کاشکوټ، ګریك، امله ،کلاټك ـ بوډیالی دکوز کونړ مشهور کلی دی ،چکنی هم یو کلی‌دی . او«مزار» او «دره نور» یې مشهورې درې دی .

ملا خلیل و یل ز مو نږ ه ور تلو ځنډ وکړ
چه پېرنګی د بنګي راته‌هرچاېي‌ځنګ وکړ
رحمت په ماشه دحضرت‌په دیـن مي ننګ وکړ
جنګ مي بنا کړه مخ‌په بېرته پېرنګیان‌لاړه
* * *

ناڅا په غږ شو چار میسیږله رساله راغله
کریم خان وو یل دسرونـو حواله را غـله
څوا نو تبنتئ چه ز مونږه‌په کله راغله
دي‌کریم خان سره د زیا ب لـه هلکان‌لاړه
* * *

دپېرنګی بچو لښکر دي سپیـن سپا شینـه
څا وند ه خدا یه لا په مرګ دی هول تبا شینه
چه‌دتوپ ډزشی وایی «شاړی‌دوتهقا(۱)شینه»
واړه بی ایما ن وو چه مخبر ته په میدا ن لاړه
* * *

په برنیګار می تو ری لړ ی سره‌پوځونه راغله
حساب یي نشته بی حسابه عا لمونه را غـله
قلای ملـق(۲) باندی دغا زیا نوبیرغونه راغله
جنګ یي ونه کړ دسـپی زا من کفـار لا ړ ه

* * *

---

(۱) « شاړی دو تهقا شی » دپشه اي ژبې مـحا وره ده معنا یی ده : «تبنتئ چه غږ غبر ګیږی !»

(۲)« قلای ملق » په اصل کښې(کلا ملخ) دی یو کلـی دی چه دا ملې دکلی په دوه کیلو متری کښې پروت دی .

قلا ی ملق په شهیدا نو د ې رحمت و ینه
توره یې کړ ې بلبلا ن به دجنت و ینه
ملك شفی (١) په زوی دې زر څله لعنت و ینه
بله ی یې وا خستې خو شحاله پېر نګیان لاړه

* * *

داغاجان خویندې چه ژاړی خپل جانان غواړی
دخدایه سوال کا هغه خپل ګل رویان(٢)غواړی
توریې پټکی تورې و روځی خپل نشان غواړی
دا ډیر غمونه (علی جان) په زړه امبار لا ړه
(علی جان ـها روبهار)

---

(١) ملك شفی یعنی ملك شفیع .
(٢) ګل رویان یعنی ګل ریحان .

(٧)

دچمنی خان مرگ

په چمنی خان بانـدې دې کړی ګـوزارونه
نا مسلما نه مـات د ې شه لا سونـه

* * *

چمنی له اصله خاند ان ؤ په اتما نزوکښې دی‌ودان ؤ
ددنیا کـا ر واړ ه ار مـان ؤ
دده نه پا ته شوو ښا یسته واړه‌کا رونـه
نا مسلما نه مـات د ې شه لا سونـه

* * *

مخبر دد ه خه ؤ ر وا ن لاټ له يـېورکـړ دا بيا ن
چمنی دې هم بند کړه په ځان
ستا په رضا باند ې مې وکړل دا کارو نه
نا مسلما نه مـات د ې شه لا سونـه

* * *

لاټ دتا ريغ نه شو خبـر پلټن دې ور شی برابر
داتما نزو نيسئ ګو در
پا س په هوا پس را تلل پنځه جهـا زو نه
نا مسلما نه مـات د ې شه لا سونـه

* * *

جهازونو وکړه بمباری په انګر بزا نوخو شحالی
زمونږه واړه ر ضا یی
پا ینده خان وایي ددې غم پا خــه در دو نــه
نا مسلما نه ما ت د ي شــه لا سو نه

یادونه : چمنی خان اصلا ددواوې دبتګرام و ،مومندوته فرار شوی ؤ -په لکړو کښې اوسېده ،په پرنګیانو به یــې همېشه حملی کولې .
په یوه حمله کښې دپر نګیا نو له خوا وو ژل شو.

(٨)

دقصه خوانی پیښه

پیــدا شو خــلا فــت پــه ښار د پېښور کښې
را تلــه سك او ګــو ره قیصه خوانــی له په تلوا ر
پر ې جو ړ شو دندو کا ر

* * *

بې انصافه شو و کفــا ر سختی شو له په ښا ر
قــصه وا یــم په جا ر
چه چېر ته مسلما ن ؤ و یــې کــړ په دین غیــر ت
پیــد ا شو خــلا فــت
نسیت(١) کاوه پر نګیا نو غوږ کښېږدئ هو ښیارانو
ګا ند ی اوغفار خان و
هندو کــه مسلمان ؤ بــمبئی او پــه لا هــور کښې
په ښار د پېښور کښې
دا حــکم پېــــر نګــی پــه خلــکو کړ ه جا ری
نــن ورځ ده د بر ی
واده چــه نــو ی و کـــا خبــر وی دې پــری سر کار
پر ې جو ړ شودندو کار

* * *

دصــدر نــه لــښکــر چــه را غی د کا فــر
هــېڅو ك نــه و خبــر
با زار قصه خوا نــی کښې هــر سړ ی و کــړ هیبت
پیــد ا شو خــلا فــت

(١) نسیت ـ دنصیحت مفغن شکل دی .

ډېر خاوری شوو ځوا نا ن مخلوق يې کړتوپان
خوا ران او مسکينـا ن
تا بع د پير نګي چه وی مخ تو ر به وی محشرکښې
په ښار د پېښو ر کښې
بستـه لارې د جنـګ چه راغلی د فر نـګ
هـېچا نه کا وه ځنګ
پکښې وې ماشينګنـې هـر سړ ی يـې کړ ايسا ر
پر ی جو ړ شو دند وکار
* * *
له سو خته کـړ م و ينـا دد ې بـر تـا نيـا
ګر د ش د ی دد نيـا
دو ه درې سو ه مخلو ق و رسـېد ،پـه شها د ت
پيـد ا شو خـلا فـت
ښه فکر پـکښې و که خپـه ز ړګی دې ښه‌که
رحمت پـه تا الله کـه
ګو يانـه يـې مـدا م په ذ کر فکر تصو ر کـښې
په ښار دپـېښور کښې
صفـت کـو م يوبـل کـوچـی ؤ دکـا بـل
و لا ړ ؤ لـکـه ګـل
پخپله هـم شهيد شو پېر نګيا ن يـې کړل مر دار
پر ې جوړ شو دند وکار
* * *
رحمت دې شی‌و رباندې دښمن‌دې‌وی‌ترې‌لاندې
د پا سه غفـار خان
غـا زی دی چه غيرت کوی پـه ديـن دپاك حضرت
پيـد ا شو خـلا فـت

چه څوك كوی څنده مدام وی شرمنده
په كفر كښې ګنده
صا دقه مسلمان دی ځای مقام یې اشنغر كښې
په ښار ردپېښور كښې
لایق دی د صفت وركړی رب عزت
مقام دې شي جنت
قبولې جبلخانې كړې كه دې كیږی پری اتبار
پری جوړ شو دندوكار

* * *

انګریز دې شه غلام كوی دې ستا سلام
تیرا كښې دې مقام
بل ځو مردانه د زمان خان په شان صورت
پیدا شو خلافت
را تله اپریدی وا ړه انګریز كښېښو دهغاړه
خپل خیر دخدایه غواړه
معلوم یې ورته زور شو كه په دې باندې باور كا
په ښار د پېښور كښې
قاضی چه پاك الله شی شفیع رسول الله شی
ګناه دې كه بلا شی
عاصی (حضرت ولی) غمخور دې شته نبی سردار
پری جوړ شو دندوكار

یادونه: دا چار بیته دحضرت ولی دا شعارو له هغې
قلمي مجموعې نه وا خستل شوه چه ښاغلی ملك شیر یند ل
سا پی را ټوله كړی او دپښتو ټولنې په كتابخانه كښې
موجود ده.

ددې مجموعې ماخذونه

الف : تحریری منابع :

١- دپښتونخوا دشعر ها رو بهار- دجم ډار مستشر فرانسوی تالیف .
١٨٨٨ع - دپاریس چا پ . (دمطبوعاتوکتابخانه).

٢-پښتو ادب.دعبدالحلیم«اثر» تالیف- ١٢٧٠ﻫ ،ق - دپېښور چاپ .

٣- اخون صاحب سوات دنصر الله نصر تا لیف دپېښور چا پ .

٤-کابل مجله - د١٣٤٣ ﻫ ،ش کال دسر طان دمیاشتې گڼه - دښاغلی مجاور احمد زیار مقا له .

٥- دپښتنو تاریخ لومړی ټوك -دمرحوم قاضی عطاء الله تالیف- ١٩٤٧ ع - دپېښور چا پ .

٦- پښتنې سندرې لومړی ټوك -کابل- پښتوټولنه .

٧- دقاری عبدالمستعان یو شخصی مکتوب- د١٣٥٢ﻫ ،ق دجمادی الاول ٢٦ مه نېټه .(دښاغلی سیال په ذریعه)

٨ دمرغلرو امېل - دقیام الدین خادم - ١٣٣٤ ﻫ ش- دکابل چا پ .

٩- دحضرت ولی داشعارو قلمی مجموعه (دپښتوټولنې کتابخانه) دملك شیرینډل ساپی ټولونه .

١٠- پښتو- (دپېښور یو نیو رسټی دپښتوا کاډیمی مجله) د ١٩٦٤ع کال اوومه گڼه .

۱۱- پښتو قاموس (لومړی او دوهم ټوک) - پښتو ټولنه -کابل- د ۱۳۳۰-۱۳۳۳ ه ش چاپ .

۱۲- ظفر اللغات . دسید بهادر شاه ظفر - د پېښو ر چا پ .

۱۳- پښتونیار - دپوهاند رښتین تدوین .کابل - پښتو ټولنه .

۱٤- دپښتنو مجا هدې - دپوهاند رښتین تا لیف - کا بل .

۱۵- د(جمهوریت) مجله - پېښور- د ۱۹۵۷ ع دمې دمیاشتې ګڼه - دښاغلی نصر الله نصر مقاله .

۱٦- عجب خان اپریدی - نر پښتون - دښاغلی جمشید اثر - دپېښور چا پ .

۱۷- دچکنور د ملا صاحب ستاینې - دبلبل افغا ن ټولونه (قلمی) .

۱۸- دخیبر ادب دپېښور چا پ.

ب: شفا هی منابع :(هغه ښاغلی چه دنورو خلکو شعرونه یې راکړی دی) .

۱- ارسلا دسر کاڼو ددونه ای .

۲- پاینده خان با جوړی (ځېل شعرونه یېراکړی).

۳- ثمر دین دغنی خېلو .

٤- سید محمد دالینګار ورېې

۵- شهسوار دلغمان دچلمې .

٦- عبدالجلیل سرتور دشګی .

۷- علي احمد دلغمان د نورې .

۸- محمد حلیم دلغمان دالینګار ددر ي .

۹- معشوق صادق با جوړی (دباجوړ دوا قعا تو په باره کښي يې معلومات راکړی) .

۱۰- میرا جان سیا ل مو مند .

۱۱- نصر الله حا فظ چپر ها ری .

۱۲- حبیب الله اپر یدی .

PROPERTY OF ACKU
6094

پښتو ټولنه

دولتی مطبعه